وَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ

# د سیاسي جوړښت ورانديز

Sabawoon Online
www.Sabawoon.com

دوکتور عبدالقيوم مومند

دوکتور عبدالقیوم مومند
د سیاسي جوړښت وړاندیز، (پښتو)، لیکوال: دوکتور عبدالقیوم مومند، د کتاب اصلي نوم: د سیاسي جوړښت وړاندیز لیکوال: دوکتور عبدالقیوم مومند، چاپلړ: لومړی، پاڼې: ۱۰۵، کچه: ۲۱ x ۱٤سم، افغان خپرندویه ټولنه، کابل، ۲۰۱۵ز - ۱۳۹۴ل.
ISBN ۹۷۸-۹۹۳٦-٦۱۱-۰۹-۲
آ.عنوان: سیاست او حکومتداري ب.عنوان: سیاسي جوړښت

افغان خپرندویه ټولنه
مکتبة الأفغان للتألیف والترجمة والنشر

کتاب پېژندنه:
کتاب: د سیاسي جوړښت وړاندیز
لیکوال: دوکتورعبدالقیوم مومند
کمپوز: انجنیرمحمدافضل ذاکر
پوښتې: انجنیرجمعه خان نائل
د پاڼو شمېر: ۱۰۵
کچه: ۲۱ x ۱٤ سم
چاپ لړ: لومړی
چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
چاپ نېټه: ۲۰۱۵ز (۱۳۹۴ل) کابل
ISBN ۹۷۸-۹۹۳٦-٦۱۱-۰۹-۲
خپرندوی: افغان خپرندیه ټولنه

+93 (0) 75 214 6183
+93 (0) 20 251 2019
www.afghanpublisher.com
sales@afghanpublisher.com
afghanpublisher@gmail.com
کابل – افغانستان
افغان خپرندویه ټولنه
مکتبة الأفغان للتألیف والترجمة والنشر

د دې کتاب ټول حقوق له افغان خپرندویې ټولنې سره خوندي دي.

www.sabawoon.com
sabawoon.online
د سباوون خپرونه

بسم الله الرحمن الرحیم

www.Sabawoon.com
Sabawoon Online
د سباوون خپرونه

# ليکلړ


| سرليک | مخګڼه |
|---|---|
| د جوړښت اړتيا | ۱ |
| د جوړښت ځانګړنې | ۹ |
| خپلواکي | ۹ |
| ځانې (شخصي) خپلواکي | ۱۲ |
| د سفرکولو خپلواکي | ۱۳ |
| په يو ځای کې د اوسيدو (ژوندکولو) خپلواکي | ۱۵ |
| د ملکيت خپلواکي | ۱۷ |
| ځاني (شخصي) ملکيت | ۱۷ |
| عام ملکيت | ۱۸ |
| د کارکولو خپلواکي | ۱۹ |
| د عقيدې او ايمان خپلواکي | ۲۱ |
| د فکر او نظر خپلواکي | ۲۳ |
| د زده کړې خپلواکي | ۲۵ |
| سياسي خپلواکي | ۲۷ |
| ټولنيزعدالت | ۲۹ |
| ولسي چارواکي | ۴۳ |
| پايله | ۵۲ |
| دولتي او حکومتي جوړښت | ۵۳ |
| ۱- اجراييه ځواک | ۵۳ |
| الف: ولسمشري | ۵۳ |


www.sabawoon.com Online
صبا ووڼ خپرونه

ولسمشریزه ټاکنیزه جرګه.................................۵۵
د ولسمشریزې ټاکنیزې جرګې د استازو ټاکل...........۵۷
د ولسمشریزې ټاکنیزې جرګې موخه........................۶۱
د قانون پهٔ وړاندې د ولسمشر مسوولیت...................۶۵
د ولسمشر ګوښه کیدل او ګوښه کول........................۶۵
لهٔ دندې وروسته امتیازات..................................۶۸
ولسي جرګې ته د ولسمشر د کابینې ورپیژندنه..........۶۹
د ولایتي څارنوالیو ریسان...................................۷۰
د ولایتي محکمو ریسان.......................................۷۱
ولایتونه او والیان...............................................۷۱
۱-د دفاع او ملي امنیت چارې.................................۷۱
۲- سیاسي او اداري چارې...................................۷۲
د علماوو شورا...................................................۷۳
ب-لومړی وزارت...............................................۷۴
څوک لومړي وزیر او وزیران کیدی شي؟....................۷۷
د لومړي وزیر او وزیرانو ګوښه کیدل او ګوښه کول.......۷۷
د قانون پهٔ وړاندې د لومړي وزیر او وزیرانو مسوولیت.......۷۸
لهٔ دندې وروسته امتیازات...................................۷۸
۲-مقننه ځواک....................................................۷۹
الف-ولسي جرګه.................................................۷۹
د ولسي جرګې د استازو ګوښه کیدل او ګوښه کول.........۸۱
د قانون پهٔ وړاندې د ولسي جرګې د استازو مسوولیت......۸۲

لۀ دندې وروسته امتیازات..................................۸۲
د ولسي جرګې د ټاکنو کړنلاره.................................۸۴
ب- قانون جوړول، پۀ قانون کې بدلون راوستل او ..........۸۹
۱- قانون جوړول.................................................۸۹
۲- پۀ قانون کې بدلون راوستل..................................۹۴
۳- قانون لۀ مینځه وړل..........................................۹۵
۳- قضاییه ځواک..................................................۹۶
الف- ستره محکمه.................................................۹۶
ب- د سترې محکمې جوړښت او واکونه........................۹۷
پ- د تمیز محکمه..................................................۹۷
اخستنځایونه.......................................................۹۸

www.Sabawoon.com
Sabawoon Online
د سباوون خپرونه

# د جوړښت اړتیا

د اسلامي دولتي او حکومتي جوړښت د اصولو له مخې د یوې مسلمانې او یا هم د مسلمانانو په اکثریت ولاړې ټولنې سیاسي جوړښت او سیاسي کړنلاره د قرآن، سنت، اجماع او قیاس د بنسټونو په رڼا کې د وحدانیت، رسالت او خلافت (استازیتوب) پر بنسټ جوړیږي. په دې جوړښت کې لوی څښتن ﷻ یوازنی واکمن دی او د امر او نهې ټول احکام او اوامر له هغه سره دي چې په قرآن کریم کې یې مسلمانانو ته څرګند کړي دي. له دې امله یو انسان د دې حق او صلاحیت نه لري چې د بل انسان د ژوند لپاره محدودیتونه وټاکي او یا د بل انسان د ژوند په اړه د لوی څښتن ﷻ له اوامرو او لارښوونو څخه بهر کوم بل تصمیم ونیسي او یا کومه پریکړه وکړي. د انسانانو د لارښوونې او د الهي احکامو په رڼا کې د تصمیم نیولو او د یوه سیاسي، ټولنیز، اقتصادي، او عدلي نظام د جوړولو لپاره لوی څښتن ﷻ د خپل وروستني پیغمبر محمد ﷺ له لارې لارښوونکی کتاب، قرآن کریم رالیږلی دی.

د اسلام پیغمبر محمد ﷺ په خپل وخت کې یو سیاسي، نظامي، ټولنیز او اقتصادي جوړښت رامینځته کړ چې پیلامه یې د مدینې په میثاق (دستورالمدینه) باندې وشوه. که د مدینې میثاق په غور سره ولوستل شي څو مهم ټکي چې د دې لیکنې لپاره د غور وړ دي، ترې لاس ته راځي. د مدینې په میثاق کې اساسات پر شخص ولاړ دي نه پر کهول، قام او توکم. شخص مسوول ګڼل شوی چې د

مـدینې د خلکـو ، خـاورې او گټـو څخـه ننگـه وکـړي او د مـدینې حکومـت مسـوول گڼـل شـوی چـې د مـدینې د هـر اوسـیدونکي (شـخص) د ژونـد ، مـال، عـزت او حیثیـت څخـه ننگـه وکـړي. دلتـه مسلمان یا مومن نهٔ دی یاد شوی بلکې هر اوسیدونکی یـاد شـوی چې پهٔ هغې کې یهود ، نصارا او نور هم داخل وو.

کـهٔ دا خبـره پـهٔ نـوې سیاسـي ژبـه وژبـاړو نـو د تبعـه او تـابعیـت (Citizen and Citizenship) هغـه پدیده چې لویـدیځ هیوادونـه یـې پـر مـوږ د ډیموکراسـۍ پـهٔ زور منـل غـواړي، اسـلام څـوارلس سـوه کاله وړاندې عملي ثابته کړې ده.

د پورتنیو اصولو پهٔ رڼا او چاپیریـال کې لوي څښـتن ﷻ انسـان د ځمکـې پـرمخ د خپـل خلیفـه (اسـتازي)[1] پـهٔ توگـه ټـاکلی او ځینـې واکونه او صلاحیتونه یې ورکړي دي. لوي څښتن ﷻ پهٔ قرآن عظیم الشان کې فرمایي:

قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ.[2]

**ژباړه:** وایه (اې محمده) ربه د پاچاهي واکمنه ! دا تهٔ چې چـا تـه وغـواړې پاچـاهي ورکـوې او بیرتـه پاچـاهي تـرې

[1] کهٔ د عربې ژبې د خلافت ټکی پښتو ته وژباړل شي نو د استازي مانا ورکوي.
[2] ال عمران، ۲۶.

www.sabawoon.online.com

> اخلي، لۀ چا نه دي چي خوښه شی ستا او چا ته چي وغواړی عزت ورکوي او څوک چي وغواړي خوار وي يې.[۳]

لوی څښتن ﷻ انسان مکلف کړی چي د دغو واکونو او صلاحيتونو پۀ رڼا کي د انساني ژوند د ساتنې، پاېښت او پرمختيا لپاره لارې چارې جوړې کړي، او د ټولنې د نظم او ښيګڼې لپاره ترې کار واخلي. لۀ دې امله د اسلامي دولتداری او حکومتداری د اصولو پۀ تګلاره کي حکومت جوړول او حکومتداري کول انسانانو ته خدمت کول، د ټولنې د پرمختګ لپاره کار کول او پۀ ټولنه کې د ټولنيزعدالت ټينګول دي. پۀ داسې ټولنه کې ورورې وي او ظلم نۀ وي او د ټولنې وګړي يو لۀ بل سره مرستې ته ولاړ وي. لۀ ابوموسی رضي الله عنه او عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

> أَلْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا.[۴] او الْمُسْلِمُ أَخُوالْمُسْلِمِ، لاَيَظْلِمُهُ وَلاَيُسْلِمُهُ، وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ، وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ[۵]

---

[۳] روانه او ساده ژباړه، مولوي فاروق غلجی.

[۴] صحيح البخاري، کتاب المظالم، ۲۴۴۶.

[۵] صحيح البخاري، کتاب المظالم، ۲۴۴۲.

> **ژباړه:** مومنان یو بل ته د یوې ودانۍ د بیلو برخو (خښتو) حیثیت لري چې یو بل بشپړوي. یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی چې نه به ظلم ورباندې کوي او نه به یې بل ظالم ته په لاس ورکوي چې ظلم پرې وشي. هر څوک چې د خپل ورور اړتیا پوره کړي لوی څښتن ﷻ به له هغه سره د هغه د اړتیا پر وخت کې مرسته وکړي. که یو مسلمان له بل مسلمان ورور څخه ناورین او غمیزه لرې کړي نو لوی څښتن ﷻ به د هغه څخه د قیامت په ورځ ناورین او غمیزه لرې کړي. څوک چې په دنیا کې د مسلمان پرده وکړي لوی څښتن ﷻ به د قیامت په ورځ هغه له شرم او سپکوالي څخه خوندي کړي.

په اسلام کې پرېکړې، واکونه او مسوولیتونه د ټولو انسانانو په نامه راغلي، نه د یو مشخص کس یا یوې مشخصې ډلې په نوم. له دې امله استازیتوب یا چارواکي کول هم د یوې ټولنې د ټولو وګړو حق او مسوولیت دی او هر غړی په دې استازیتوب او چارواکۍ کې واک او مسوولیت لري. د ټولنې هر وګړی لومړی د لوی څښتن ﷻ په مقابل کې مسوولیت لري او هغه ته ځواب ویونکی دی او بیا د خپل ولس او ټولنې په وړاندې مسوولیت لري او ولس او ټولنې ته ځواب ویونکی دی.

څرنګه چې د چارواکۍ حق ځانګړی دی نو مسوولیت یې هم ځانګړی دی چې دا دواړه د انسانانو د مساوي حقوقو ښکارندوی

دي. هیڅوک حق نهٔ لري چې لهٔ یو انسان څخه هغهٔ ته د لوی څښتن ﷻ لخوا ورکړل شوي حقونه او واکونه واخلي.

چارواکي کول، چارې پرمخ بیول او د خلکو د ژوند او چارو پهٔ هکله پرېکړې کول د چارواکو سره هغه الهي امانت دی چې د ټولنې د وګړو لخوا ورته د دې اجازه ورکړل شوې ده چې د الهي واکمنۍ پهٔ رڼا کې ورځنۍ چارې پرمخ بوځي.

زموږ پهٔ ننۍ نړۍ کې د استازیتوب او امانت مسئله به پهٔ دې لاندې بیلګه کې نوره هم څرګنده شي:

یو شتمن کس یو بانک جوړوي او د بانک د چلولو او بانکي چارو د پرمختګ لپاره یو بل کس د بانک د رئیس پهٔ توګه پر دنده ګوماري. سره لهٔ دې چې د بانک رئیس د بانک د کارونو څارنه کوي، ورځنۍ چارې یې پرمخ بیایي مګر بیا هم د بانک مالک نهٔ دی. د بانک ملکیت د بانک لهٔ خاوند سره خوندي پاتې کیږي.

همدا راز د بانک رئیس به پهٔ بانکي چارو کې ډیر نوي فکرونه او پلانونه ولري، خو د بانک خاوند د بانک رئیس ته عمومي لارښوونه کوي چې بانکي چارې څنګه پرمخ بوځي او د بانک رئیس د دې عمومي لارښوونې پهٔ رڼا کې د بانک ورځنۍ چارې پرمخ بیایي. سره لهٔ دې چې د بانک رئیس د بانک د ټولو چارو مسوول دی، بیلابیل واکونه لري او د بانکي چارو پهٔ هکله ځینې پرېکړې هم کوي، مګر د واک او پرېکړو اندازه او څرنګوالی ورته د بانک د خاوند لخوا ټاکل شوی او د بانک رئیس لهٔ دې کچې

څخه بهر پریکړې نشي کولی. د دې ټولو سربیره، د بانک رئیس د بانکې چارو د څار او د ورځنیو بانکي چارو او پریکړو په وخت، د بانک د خاوند غوښتنې او اوامر ترسره کوي، نهٔ خپل.

کهٔ دې ټولو ته پهٔ ځیر سره وکتل شي نو د استازیتوب مسئله هم ښه روښانه کیږي.

د حکومت پهٔ جوړولو کې د ټولنې د وګړو اندونه تصمیم نیوونکي دي او چارواکي د وګړو د لارښوونو او غوښتنو پر اساس ورځنۍ چارې پرمخ بیایي. هغه څوک چې د ټولنې اعتماد لاسته راوړي، پهٔ ځان کې د حکومت کولو او چارواکۍ وړتیا ثابته کړې شي، د ټولنې پهٔ استازیتوب حکومت او د چارو واګې پر مخ بیولای شي او کله چې اعتماد او وړتیا لهٔ لاسه ورکړي نو دی مجبور دی او مسوولیت لري چې د حکومت او چارواکۍ لهٔ مسوولیت څخه ګوښه شي او وړ کس ته د چارو واګې وسپاري. الله ﷻ پهٔ قرآن عظیم الشان کې فرمایي:

وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ[۶]

**ژباړه:** او هرچا چې د الله پهٔ نازل کړي قانون فیصله ونکړه، نو همدوی سرغړونکي دي.[۷]

[۶] المائده، ۴۷.

[۷] روانه او ساده ژباړه، مولوي فاروق غلجی.

د افغانستان د سياسي ثبات، تلپاتې سولې او د افغانستان د ټولو وګړو د حقونو د ننګې او تضمين پۀ خاطر اړينه ده چې د افغانستان زړو سياسي نظامونو ته کتنه وشي او د هغې پۀ رڼا کې د يو داسې سياسي جوړښت او نظام بنسټ کېښېښودل شي چې پۀ افغانستان کې تلپاتې سوله رامينځته کړي او افغانستان د خپلواکۍ، غښتلي ولسي سياسي نظام، بشپړ اساسي قانون او ټولنيزعدالت لرونکی هيواد شي.

پۀ دې کې شک نشته چې د شاهي نظام پۀ دوران کې پۀ افغانستان کې سوله وه، خو د افغانستان سياسي، اقتصادي او ټولنيز پرمختګ د پادشاه تر پوهې، غوښتنې او مزاج پورې تړلی و.

د شهيد محمد داود خان تر مشرۍ لاندې لومړي جمهوريت پۀ اقتصادي او ټولنيز لحاظ د غور وړ بدلونونه رامينځته کړل او ځينې پرمختګونه هم وشول، خو پۀ سياسي لحاظ د افغانستان ټولنې کومه وده ونکړه او د ملت پۀ هکله تصميم نيول يوازې پۀ شهيد محمد داود خان پورې تړلی پاتې شول.
د غوايي کودتا د افغانستان ټول سياسي، کلتوري او اقتصادي ارزښتونه لۀ مينځه ويوړل. ملت د يوې داسې کوچنۍ ډلې لخوا چې د خپل هيواد او ملت پۀ هکله يې کومه پوهه نۀ درلوده، د پردي فکر او پرديو ارزښتونو د منلو پۀ نوم ووژل شو او د دې هيواد د بدبختۍ او تباهۍ بنياد کېښودل شو.
مجاهدينو او اسلامپالو نۀ يوازې دا چې اسلامي نظام، بلکې هيڅ راز نظام يې هم پۀ افغانستان کې جوړ او ټينګ نکړای شو.

هغه ابادي او نسبي ټولنیز نظام چې د کمونستانو د وحشت او بربریت څخه په امن کې پاتې شوی و، هغه هم له مینځه ویوړل شو.

د دوی لمن طالبانو ورټوله کړه او دا هیله کیده چې هیواد به د سولې او ثبات خوا ته ولاړ شي. له بده مرغه د طالبانو سیاسي فکر د څو مستحباتو په احاطه کې محدود پاتې شو او له دې احاطې څخه بهر یې د فکر وړتیا ثابته نکړای شوه. د امارت له نوم سره تړلي د امارت اسلامي اصول پرځای نهٔ شول.

خبره ډیموکراسۍ ته ورسیده او داسې یو جوړښت رامینځته شو، چې هیواد اشغال شو او خپلواکي له مینځه ولاړه، بلواکي واکمنه شوه او د روڼاندو او پرمختګ پوهیدنه یواځې په دریشي او نیکټایي کې رالنډه شوه.

د حکومتي چارواکو نیمایي عمر په سرپرستۍ کې تیرشو، ځکه له یوې خوا نومول شوو چارواکو د کار وړتیا نهٔ درلوده او له بلې خوا د افغانستان د ولسي جرګې او مشرانو جرګې کمیشنکارانو او ټیکه دارانو، د پوره کمیشن او ټیکې د نهٔ لاسته راوړلو له امله، رایه نهٔ ورکوله. د معامله ګرۍ، کمیشنکارۍ او ټیکه دارۍ په دې بازار کې په ملیاردونو ډالر ورک او ډوب شول.

د دې ټولو تجربو وروسته اوس کومه لار پاتې ده؟ ټولو شته فکرونو او "ایزمونو" ناکامې تجربې پرینښي دي او دا ناامیدي رامینځته شوې چې بله کومه لار نشته. خو زه وایم چې لار شته چې په دې کتابګوټي کې به یې وګورئ.

## د جوړښت ځانګړنې

د افغانستان راتلونکی سیاسي او ټولنیز نظام باید د خپلواکۍ، وګړییز او ټولنیز عدالت او استازولۍ پر بنسټ ولاړې ولسي چارواکۍ د اصولو پر اساس چې په لنډه توګه به لاندې څرګند شي، جوړ کړای شي.

### خپلواکي

خپلواکي د یو انسان او یا یوې ټولنې هغې ارادې، قدرت او عمل ته وایي چې د نورو له تاثیر څخه خالي وي او د پردیو له اغیزې پرته خپل شتون، ژوند او پایښت روان وساتي. خپلواکي د انسانانو هغه وړتیا ده چې له پردي زور، تاو، بندیز او ټاکنې پرته د یو شي د کولو او یا نه کولو په اړه پرېکړه وکړي. دا وړتیا د انسانانو په انفرادي او ټولنیز ژوند کې عملي ده. په نړیواله سیاسي کچه خپلواکي له بهرني نفوذ او ادارې څخه خلاصون ته ویل کیږي.

یوې ټولنې او یا یو هیواد ته هغه وخت خپلواک ویل کیدای شي چې په بهرنیو حکومتونو او قدرتونو پورې تړلی نه وي او چارې یې پر خپلو پښو ولاړې وي. کله که یو کس، یو ولس او یا یو هیواد د بل کس، بل ولس او یا بل هیواد تر اغیزې لاندې وي، پردي نظریات ومني او د پردیو د ګټو، کړنلارو او تګلارو له اصولو سره برابر د خپلو ملي ګټو، کړنلارو او تګلارو پر خلاف کړنې ترسره کړي نو داسې کس، ولس او یا هیواد ته خپلواک نشي ویل کیدی.

خپلواکي ولسونو ته خپله اراده، هویت او ملي احساس وربخښي.

اسلام خپلواکي د انسانانو طبیعي حق ګڼي او هغه ژوند نهٔ بولي چې خپلواکي ونلري.

کهٔ یو انسان خپلواکي لهٔ لاسه ورکړي، نو د هغهٔ وجدان، خپله اراده او د نفس عزت مري او یوائې یو خوړونکی، ښوونکی، کارکونکی او خوځیدونکی ښاروی ترې جوړیږي. اسلام خپلواکي دې حد ته رسولې ده چې لوی ښښتن ﷻ انسانانو ته د اسلام د سپیڅلي دین پهٔ منلو کې هم خپلواکي ورکړې ده. لوی ښښتن ﷻ پهٔ قرآن عظیم الشان کې فرمایي:

لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ ۖ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ۚ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ لَا انفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ [۸]

**ژباړه:** نشته هیڅ زور پهٔ دین کې، پهٔ تحقیق سره ښکاره شوې ده سمه لار لهٔ ګمراهي ځینې. پس هرڅوک چې کافر(منکر) شو لهٔ بتانو او ایمان یې راوړ پر الله باندې نو پهٔ تحقیق سره یې ټینګه نیولې ده کړۍ چې لهٔ سره نشته پریکیدل هغې لره، او الله ښه اوریدونکی ښهٔ عالم دی[۹].

---

[۸] البقره، **۲۵۶**.

[۹] کابلی تفسیر.

www.sabawoon.com Online

لۀ دې څخه څرګندېږي، چې کله الله ﷻ د خپل دين پۀ منلو کې پر انسانانو باندې زور نۀ کوي نو د ورځني ژوند پۀ نورو برخو کې خو قطعاً زور نشته، ځکه دين او ايمان د انسانانو تر ټولو لوړه پانګه او ساتونکې محور دی. لۀ دې امله انسان د خپل فکر او خپلې شتمنۍ پوره واک لري چې د هيڅ دنيايي زور پيرو نۀ دي. دا انسان ته د لوی څښتن ﷻ لخوا يوه ورکړل شوې پيرزوينه ده.

لۀ بلې خوا پۀ اسلام کې خپلواکي د دې مانا نۀ لري چې انسان لۀ هرراز ټاکلو اندازو او لارښوونو څخه خلاص دی، ځکه بې کچې خپلواکي انارشي رامينځته کوي. انسانان د هوس پر لوري کش کېږي او شيطاني غرايز د انسانانو ژوند قابو کوي او واکمني پرې کوي. خپلواکي د قرآن کريم پۀ لارښوونو او د رسول اکرم ﷺ پۀ کړو او ويناوو کې ځای پۀ ځای شوې ده. د بيلګې پۀ توګه يو انسان د دې حق نۀ لري چې بل انسان پۀ دې مجبور کړي چې د هغۀ پۀ لار روان شي او يا د هغۀ غيرشرعي غوښتنې او حکمونه ومني، ځکه د يو انسان خپلواکي د دې مانا نۀ لري چې د بل انسان خپلواکي دې لۀ مينځه ولاړه شي. پۀ عمومي ډول ويلای شو چې د وګړو او ټولنې خپلواکي بايد د دې لامل نشي چې د ټولنې ټولنيز جوړښت او بنسټونو ته تاوان ورسوي، د ټولنې د وګړو او ټولنې پراخه حقونو ته تاوان ورسوي، او د نورو وګړو، ټولنو او هيوادونو د خپلواکۍ د لۀ مينځه تګ لامل شي. پۀ اسلامي ټولنه کې د انسانانو خپلواکي پۀ لاندنيو برخو کې تأمين شوې ده.

## ځاني (شخصي) خپلواکي

په ځاني خپلواکۍ کې یو انسان تر هغه برید پورې خپلواک دی چې د بل انسان د خپلواکۍ برید ته ورسیږي. ترڅو چې د یو انسان چارې او کړه وړه د بل انسان خپلواکۍ او حقونو ته زیان ونه رسوي، نوموړی انسان باید خپلواک او آزاد پرېښودل شي چې د ځان، مال، ملکیت او حیثیت لهٔ ویرې او ګواښ پرته خپلې چارې پرمخ بوځي.

ځاني خپلواکي او آزادي د سپېڅلتوب (پاکوالي) او ساتنې (امنیت) د اصولو پر اساس ولاړه ده. لوی څښتن ﷻ انساني حیثیت او عزت ته ډېر لوړ ځای ورکړی او پهٔ انسانانو یې امر کړی چې یو د بل حیثیت او شرافت وساتي، یو پهٔ بل تیری ونکړي، یو بل ته پهٔ سپک نظر ونهٔ ګوري او یو بل سپک نکړي. لوی څښتن ﷻ پهٔ قرآن عظیم الشان کې فرمایي:

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ ...[10]

**ژباړه:** او خامخا پهٔ تحقیق ډېر عزت ورکړی دی مونږ اولاده د آدم ته...[11]

د انسان فکر، نوم، عزت، ویاړ او خپلواکي د انسانانو د سپېڅلتوب ستر، منلي او ګڼلي بنسټونه او ستر توکونه دي. همدا

---

[10] الإسراء (بني اسرائیل)، ۷۰.
[11] کابلی تفسیر.

www.sabawoon.com
Sabawoon Online

وجه ده چې پهٔ اسلام کې پهٔ یو انسان باندې تیری او د هغه ارزښت ته سپکاوی ټولې ټولنې ته تیری او سپکاوی بلل کیږي. لهٔ بله پلوه د یو انسان سره ښهٔ کول او د هغهٔ درنښت کول لهٔ ټولې ټولنې سره ښهٔ کول او د ټولې ټولنې درنښت بلل کیږي. د انسانانو ساتنه پهٔ اسلام کې ځانګړی ځای لري.

لهٔ دې امله پهٔ اسلام کې د هر انسان د ژوند، عزت او شتمنۍ ضمانت شوی او پهٔ انسانانو زیاتی کول او د انسانانو وژل منع شوي دي. دا بنسټونه او اوامر د ټولو انسانانو لپاره پهٔ یو ډول دي، کهٔ نر وي او کهٔ ښځه، کهٔ چارواکی وي او یا عام وګړی.

## د سفرکولو خپلواکي

انسانان د دې حق او واک لري چې پرته د کومو بندیزونو، بریدونو او ستونزو پهٔ خپل هیواد کې دننه او د خپل هیواد څخه بهر سفر وکړي او بیرته خپل هیواد ته راستانه شي. د سفرکولو دا حق پهٔ قران کریم، د پیغمبر ﷺ پهٔ سنتو او د علماوو پهٔ اجماع کې څرګند دي. لوی څښتن ﷻ پهٔ قرآن عظیم الشان کې فرمایي:

هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولًا فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِن رِّزْقِهِ ۖ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ[12]

---

[12] الملک، ۱۵.

**ژباړه:** دی هغه ذات دی چې تاسې ته يې ځمکه ايل کړې، تاسې يې په څنډو (يا لارو) کې ګرځئ او د هغه روزي خورئ او هماغه ته مو بيا ژوندي راپورته کېدل دي [۱۳].

همدا وجه ده چې مسافرو ته ستونزې پيدا کول او هغوی ته تاوان رسول ستره ګناه ګڼل شوې ده او په اسلام کې دې ګناهګارو او په ځانګړې توګه د لويو لارو غلو لپاره سخته سزا ټاکل شوې ده. همدا راز نه يوازې دا چې انسانان د سفرکولو حق او خوند يتوب لري بلکې د سفر لارې هم بايد پاکې وي، ستونزې پکښې نه وي او د خلکو لخوا کوم خنډ يا بندښت رامينځته نشي. د أبو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي:

إِيَّاكُمْ وَالْجُلُوسَ عَلَى الطُّرُقَاتِ ." فَقَالُوا مَا لَنَا بُدٌّ، إِنَّمَا هِيَ مَجَالِسُنَا نَتَحَدَّثُ فِيهَا . قَالَ " فَإِذَا أَبَيْتُمْ إِلاَّ الْمَجَالِسَ فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهَا" قَالُوا وَمَا حَقُّ الطَّرِيقِ قَالَ "غَضُّ الْبَصَرِ، وَكَفُّ الأَذَى، وَرَدُّ السَّلاَمِ، وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ، وَنَهْىٌ عَنِ الْمُنْكَرِ ."[۱٤]

**ژباړه:** پېغمبر ﷺ وويل: خبر اوسئ. د لارې په سر (مينځ کې) مه کښېنئ. خلکو وويل: له دې پرته بل هيڅ چاره نشته ځکه د لارې سر زموږ د ناستې يوازنی ځای دی چې موږ سره خبرې کوو. پېغمبر ﷺ وويل: چې هرو مرو

---

[۱۳] روانه او اسانه ژباړه، مولوي فاروق غلجی.
[۱۴] صحيح البخاري، کتاب المظالم، ۲۴۶۵.

بايد هلته کښينئ، نو د لارې حقوق بايد پرځاى کړئ. خلکو وپوښتل: د لارې حقوق کوم دى؟ پيغمبرﷺ وويل: خپل نظر(کتل) لاندې واچوئ، خلکو ته تاوان مه رسوئ، سلام اچولو ته ځواب ورکړئ، ښه کوئ او د بدو مخه نيسئ.

## پهٔ يو ځاى کې د اوسيدو (ژوندکولو) خپلواکي

يو انسان د دې خپلواکي لري چې پهٔ هره سيمه او هر هيواد کې د خپلې وسې برابر قانوني استوګنه وکړي. د دې ترڅنګ دولتونه او حکومتونه مسووليت لري چې د هغو کسانو لپاره د استوګنې شرطونه، اسانتياوې او شونتيا برابره کړي چې خپله يې وس نهٔ لري، ترڅو د دې خلکو د ژوند کولو او اوسيدلو بنسټيزه اړتياوې پوره شي.

د يو انسان د اوسيدو ځاى (کور) د هغه حريم دى او هيڅوک حق نهٔ لري چې د چا حريم ته پرته د کور د خاوند لهٔ اجازې ننوځي، کهٔ هغه چارواکى او يا ولسمشر هم وي. لوى څښتنﷻ پهٔ قرآن عظيم الشان کې فرمايي:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّىٰ تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَىٰ أَهْلِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ[۱۵]

---

[۱۵] النور، ۲۷.

**ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی مهٔ ننوځئ تاسې (هغو ) کورونو ته چې غیر وي د کورونو لهٔ ستاسئ، تر هغې پورې چې (اجازه وغواړئ) او ورسره وغږیږئ او سلام واچوئ پر اهل د دوی. دا ستاسې خیر دی، بهتره او ډیره غوره ده تاسې ته، ښایي چې پند واخلئ تاسې [12].

یوائې پهٔ ځانګړو حالاتو کې چې ل ژوند، مرګ او جرم سره تړاو ولري، د یو چا حریم ته پرته د کور د خاوند لهٔ اجازې څخه د ننوتلو جواز شته. لهٔ دې امله پهٔ اسلامي شریعت کې د یو کور څخه غلا کول، د یو چا کور او یا پهٔ کور کې د ننه د سامان ضبطول او لهٔ مینځه وړل لویه سزا لري چې د لاس او پښې پریکول پکښې داخل دي.

یو کس، دولت او حکومت د دې اجازه نلري چې د چا د کور جاسوسي وکړي، د هغوی خبرې پټې واوري، ځکه چې جاسوسي کول او پهٔ پټه او غلا سره د نورو خبرې اوریدل د انسانانو د کور سپیڅلتوب او د کور د اوسیدونکو ځانګړې خپلواکۍ ته تاوان رسوي. لهٔ ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دې چې رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي:

مَنِ اطَّلَعَ فِي بَيْتِ قَوْمٍ بِغَيْرِ إِذْنِهِمْ فَفَقَئُوا عَيْنَهُ فَلاَ دِيَةَ لَهُ وَلاَ قِصَاصَ .[17]

**ژباړه:** کهٔ څوک د چا کور ته د کور د اوسیدونکو لهٔ اجازې څخه

---

[12] کابلی تفسیر.

[17] سنن النسائي، کتاب القسامة، ۴۸۲۰.

پرته د ننه وګوري او هغوی د دهٔ سترګې راوباسي، نو موړی د قصاص(بدل) او خونبها حق نهٔ لري.

## د ملکیت خپلواکي

کهٔ چیرې یو انسان وس ولري او پهٔ قانوني توګه یو څه لاس ته راوړي، دا څهٔ د هغه ملکیت ګڼل کیږي. د ملکیت حق پهٔ اسلام کې د خلافت څخه سرچینه نیولې ده، چې د اسلامې عقیدې ستره برخه ده. پهٔ اسلام کې مالک لوی څښتن ﷻ دی او انسانانو سره ملکیت د امانت پهٔ توګه پروت وي، ساتنه یې کوي او د دې روښنایې پهٔ رڼا کې د مال او جایداد د لرلو او لهٔ هغې څخه د ګټې اخستلو حق لري. امام غزالي رحمه الله علیه لیکي چې "د شریعت لوی مقصد د خلکو د ژوند ښیګڼه، رغونه او پرمختیا ده چې پهٔ حقیقت کې د عقیدې، ژوند، عقل، شتمنۍ او ملکیت ساتنه ده. څوک چې د دې پنځوو رکنونو ساتنه او پالنه وکړي، د عامه ښیګڼو خدمتګار دی او دا غوره کار دی"[۱۸]

ملکیت پهٔ اسلام کې پهٔ دوو برخو ویشل کیږي:

**۱. ځاني (شخصي) ملکیت:** هغه ملکیت ته ویل کیږي چې یو کس د هغې ملکیت خاوند وي او لهٔ هغې ملکیت څخه ګټه اخستل یوازې پهٔ هغهٔ پوري، او یا داسې بل کس پوري چې نوموړي

---

[۱۸] المستصفی من في أصول الفقه، ۱۹۳۷، لومړی ټوک، ۱۳۹ مخ.

ورته د ګټې اخستلو جواز ورکړی وي، محدود دی. نهٔ یوازې دا چې اسلام انسانانو ته د ځاني ملکیت د لرلو پوره حق ورکوي بلکې ځاني ملکیت د اسلامي اقتصاد بنیادي رکن دی. پهٔ اسلام کې ځاني ملکیت انسان د غلا، زیاتي او غصب څخه ساتي او هغه کسان چې د بل چا مال ته تاوان رسوي، یا یې غلاکوي او یا یې هم غصبوي، اسلام هغوی ته سخته سزا ټاکلې ده. د دې ترڅنګ د ځاني ملکیت لپاره خاصې لارښوونې او قوانین مسلمانانو ته رالیږل شوي چې د هغو پهٔ رڼا کې مسلمانان مکلفیت لري چې ځاني ملکیت ترتیب کړي. د بېلګې پهٔ توګه اسلام سود، دوکه، رشوت، انحصار، ناوړه ګټه، احتکار، ناروا ګټه او ځینې نورې تجارتې راکړې ورکړې چې د اسلامي شریعت لهٔ حکمونو سره پهٔ ټکر کې وي، حرامې ګرځولي دي.

**۲. عام ملکیت:** عام ملکیت د ټولې ټولنې او یا د یوې ټولنې د لویې پرګنې ملکیت او حق دی. هیڅوک پهٔ ځانګړې توګه د دې ملکیت دعوه نشي کولای. پهٔ دې ملکیت کې جوماتونه، روغتونونه، سړکونه، سیندونه، سمندر، دولتي خزانې او داسې نور ټولګټي مدارک داخل دي.

## د کارکولو خپلواکي

په اسلام کې کارکول لهٔ قانوني لارې څخه روزي پیدا کولو، د ژوند بسیاکولو او دنیایي ارامتیا ته ویل کیږي چې په اسلام کې لوړ ځای لري او کارکوونکو ته د احترام او ویاړ په سترګه کتل شوي. اسلام هر انسان ته، کهٔ نر وي او کهٔ ښځه، د دې حق ورکوي چې په هره برخه کې چې وغواړي کار وکړي، پهٔ دې شرط چې د کار کولو څخه ټولنیزې او اخلاقي ستونزې رامینځته نهٔ شي، د شریعت خلاف نهٔ وي او ټولنې ته تاوان ونه رسوي. همدا د کار ارزښت دی چې اسلام کار کولو ته د جهاد په سترګه ګوري. لهٔ کعب بن عجزه رضي الله عنه څخه روایت دی:

مَرَّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ، فَرَأَى أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ جَلَدِهِ ونَشَاطِهِ مَاأَعْجَبَهُمْ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَوْ كَانَ هَذَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنْ كَانَ خَرَجَ يَسْعَى عَلَى وَلَدِهِ صِغَارًا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَإِنْ خَرَجَ يَسْعَى عَلَى أَبَوَيْنِ شَيْخَيْنِ كَبِيرَيْنِ فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَإِنْ كَانَ يَسْعَى عَلَى نَفْسِهِ يَعِفُّها فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَإِنْ كَانَ خَرَجَ رِيَاءً وتَفَاخُرًا فَهُوَ فِي سَبِيلِ الشَّيْطَانِ[۱۹]

**ژباړه:** یو سړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ترخوا تیرشو او اصحابو ولید چې هغه ځومره سخت کار کوي او په کار کولو کې

[۱۹] المعجم الکبیرللطبراني، ۲۸۲، ۱۹ټوک، ۱۲۹مخ.

څـومره زيـات بوخـت و. اصـحابو وويـل: اې د خـداى پيغمبره! كاش چې دې سړي دومره سخت او زيات كـار د خداى ﷻ د رضـا لپـاره كړاى واى. رسـول اكرم ﷺ ځـواب وركړ: كۀ هغه كاركوي چې خپلو وړو ماشومانو ته روزي پيدا كړي او د هغـوى سـاتنه وكـړي، نـو دا كـاركول يـې د خداى ﷻ لپاره دي. كۀ هغه كـاركوي چې خپلـو زړې مـور او زوړ پلار ته روزي پيدا كړي او د هغـوى سـاتنه وكـړي، نو دا كاركول يې د خداى ﷻ لپاره دي. كۀ د دې لپاره كار كوي چې پـر خپـل نفس كنتـرول ولـري او خپـل شيطاني موخې پۀ ولكه كې ونيسي، نو دا كاركول يې د خداى ﷻ لپاره دي. لۀ بله پلوه كۀ هغه د دې لپاره كاركوي چې ځان نـورو تـه غښـتلى څرګند كړي او د كـاركولو لۀ وجـې نـه شهرت ترلاسه كړي، نو دا كاركول يې د شيطان لپاره دي.

د مسـلمانانو د ژونـد سـتره موخـه د لـوى څښـتن ﷻ رضـايت دى. كـاركول او قربـاني وركـول دوه هغـه غـوره لارې دي چـې د لـوى څښـتن ﷻ رضـا پرې ترلاسه كيـږي. پـۀ قـرآن عظـيم الشـان كـې د كـار كولو او د ژوند د بقا لپاره د ګټې ستاينه شوې او د لـوى څښـتن ﷻ لۀ نعمتونو څخه شميرل كيـږي. ځينې علمـا كـار كولـو تـه د عبـادت درجه وركوي.

## د عقیدې او ایمان خپلواکي

انسانان د دې حق او واک لري چې پرته له زور او زیاتي څخه د ځان لپاره هغه دین غوره کړي چې هغوی پرې معتقد وي. زور او زیاتی د انسان د خپلواکۍ له اصولو سره په ټکر کې دی. په هغه چا چې یو څه په زور منل کیږي، په واقیعت کې په هغه څه باور نلري چې مني یې، مګر د ځان یا اولاد او یا مال د ژغورلو لپاره دا کار کوي. دا راز منل غلط، بیکاره او بې ارزښته منل دي، ځکه چې د هغهٔ په زړه کې منل نهٔ وي. په دا راز منلو کې باور او وفاداري نهٔ وي او منفي پایلې لري.

کهٔ د لوی څښتن ﷻ کلام ته رجوع وکړو، لَآ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ، نو دا څرګندیږي چې اسلام د عقیدې او ایمان په برخه کې زورزیاتی بالکل رد کړی او انسان ته یې خپلواکي ورکړې ده.

اسلام وایې چې عقیده، ایمان او فکر باید د خپلواک فکر په رڼا کې روزنه او پالنه وکړي. همدا وجه ده چې لوی څښتن ﷻ فرمایلي دي:

وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَن فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا ۚ أَفَأَنتَ تُكْرِهُ النَّاسَ حَتَّىٰ يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ[۲۰]

**ژباړه:** او کهٔ اراده فرمایلې وای رب ستا، خامخا به ایمان راوړی وای ټولو کسانو د ځمکې په اجماع سره، نو آیا ته

[۲۰] یونس، ۹۹.

مجبوره کوې (بې لهٔ ارادې زما) خلک چې شي دوی (ټول) مؤمنان، بلکې نهٔ شي کولی[۲۱].

همدا راز:

فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ ۝ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ[۲۲]

**ژباړه:** نو ته یې وپوهوه (ای محمده) بیشکه همدا ته پند ورکونکی یې. نهٔ یې پر دوی باندې مسلط کړی شوی (چې پهٔ زور یې مسلمانان کړې)[۲۳].

دا آیتونه څرګندوي چې انسان د دې حق لري چې ځانته خپل دین غوره کړي او دا هم څرګندیږي چې د دیني او عقیدوي مسائیلو پهٔ برخه کې باید خبرې اترې او بحث موجود وي. د فکر د تبادلې امکانات باید موجود وي او انسان باید د دې شونتیا ولري چې هغه برخې ځانته روښانه کړې چې پوهه او څرګندونې پکې کمزورې وي. عقیده او ایمان هغه وخت رامینځته کیږي او خبره او عمل هغه وخت منل کیږي چې انسان پهٔ یو څهٔ قانع شي او دا قناعت ثبوت ورپلاس کړي.

د عقیدې او ایمان خپلواکي د عمل د خپلواکۍ مانا لري چې پهٔ هغې کې یو انسان واک لري چې خپل دیني او عقیدوي چارې پرته

---

[۲۱] کابلی تفسیر.

[۲۲] الغاشیة، ۲۱.۲۲.

[۲۳] کابلی تفسیر.

لۀ کوم تهديد او تحقير څخه ترسره کړي. البته د يادونې وړ ده، کله چې پۀ بشپړه خپلواکۍ او آزادۍ سره يو څوک د اسلام دين ومني او لۀ مسلمانيدو وروسته کوم بل دين غوره کړي، اسلامي شريعت د دې لپاره اجازه نۀ ورکوي. هغه څوک چې د مسلمان کيدلو وروسته بل دين غوره کړي هغه ته مرتد ويل کيږي چې حکم يې پۀ اسلامي شريعت کې معلوم دی.

## د فکر او نظر خپلواکي

اسلام د فکر او نظر د خپلواکۍ حقونه خوندي ساتلي دي او انسان ته دا خپلواکي ورکړل شوې ده چې ان د څيزونو او اسبابونو د خلقت پۀ هکله هم فکر وکړي، ټول څنګلوري يې وڅيړي او خپل ډاډ ترلاسه کړي. اسلام انسان دې ته هڅوي چې د خلقت، آخرت، نړۍ او خپل چاپيريال پۀ هکله څيړنې وکړي، پۀ دنيايي چارو کې څيړنې وکړي، خپل عقل پۀ کار واچوي او د ځمکې پرمخ لۀ پيرزوينو څخه د انسانيت لپاره ګټه واخلي.

انسان د دې قوت لري چې لۀ طبيعت څخه د ځان او ټولنې د ښيګڼو لپاره ګټه واخلي او د شونتيا تر بريده پورې يې د دې ګټو لپاره راوڅرخوي. دا ټول هغه وخت شوني دي چې انسان د چارو او کړنو پۀ اړه قوي فکر وکړي. دا راز انسان د ځان او ټولنې د جوړښت او پرمختيا پۀ خاطر د ښو اعمالو ستاينه او ملاتړ کوي، پۀ دې لار کې عملي ګامونه پورته کوي او د بدو او ناوړو کړو (اعمالو) مخه

نيسي. لوی ښتن ﷻ فرمايي:

كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ...[۲۴]

**ژباړه:** يئ تاسې (اې محمدي امته) د خير امت چې ايستلی شوی دی لپاره د خلكو چې حكم كوئ تاسې (هرچاته) پۀ معروف (نيكۍ) سره او منع كوئ تاسې (هرڅوک) لۀ بدۍ څخه او ايمان لرئ پۀ الله باندې[۲۵].

دا راز څرګندونې د ټولنيز عدالت د رامينځته كولو او ټولنه د سوكالۍ پۀ لور د وړلو لپاره يو ضروري ركن دی. علما او روڼ اندي پۀ دې برخه كې ځانګړې دندې او مسوولیتونه لري. دا هغه څۀ دي چې د اسلام پيغمبر به پرې عمل كاوه. كله به چې هم رسول اكرم ﷺ د قومونو لۀ زورواكو مشرانو او پاچايانو سره مخ شو د هغوی ناوړه كړو ته به يې د نيوكې او اعتراض ګوته نيوله.
دا راز ګوته نيول پۀ اسلامي شريعت كې ستر او غوره جهاد بلل شوی دی. لۀ ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

أَفۡضَلُ الۡجِهَادِ كَلِمَةُ عَدۡلٍ عِنۡدَ سُلۡطَانٍ جَائِرٍ أَوۡ أَمِيرٍ جَائِرٍ[۲۶].

---

[۲۴] ال عمران، ۱۱۰.
[۲۵] كابلي تفسير.
[۲۶] سنن ابو داود، ۴۳۴۴.

**ژباړه**: بهترین جهاد د ظالم پاچا او ظالم امیر په مخامخ د حق خبره کول دي.

په اسلام کې د فکر او نظر خپلواکي د دې لپاره نه ده چې د بل چا سپکاوی وشي، انسان پرې تحقیر شي او یا ترې بل انسان ته تاوان ورسیږي، بلکې دا خپلواکي د نیکو اعمالو د غښتلي کولو، د ټولنې د پرمختګ او انساني ژوند د بسیا کولو لپاره ده.

## د زده کړې خپلواکي

اسلام نه یوازې دا چې هر انسان او په ځانګړې توګه هر مسلمان دې ته هڅوي چې زده کړه وکړي او ځان د علم او زده کړې په جامه سمبال کړي، بلکې هر انسان یې په دې مکلف کړی چې علم او زده کړه ترلاسه کړي. د زده کړې او علم د لاسته راوړلو په اړه کوم محدودیت نشته مګر شرط دا دی چې دا زده کړه د مسلمانانو د ژوند او دین لپاره ګټوره وي او اسلامي ټولنې ته ترې تاوان ونه رسیږي.

هغه زده کړه او لاسته راوړنه چې انساني ژوند او اسلامي ټولنې ته تاوان رسوي، لکه جادو او یا فال لیدل، اسلام د هغې زده کړه بنده کړې او ناروا ګڼلې ده. علم او زده کړه په اسلام کې ستر ځای لري. الله ﷻ مسلمانانو ته خپل لومړنی پیغام د لوستلو په نوم رالیږلی دی:

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ۝ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝ اقْرَأْ وَرَبُّكَ

الْأَكْرَمُ ۝ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝ عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ۝[۲۷].

**ژباړه:** ولوله (ای محمده) په برکت د نامه د هغه رب چې پیدا کړي یې دی (ټول مخلوقات)، پیدا کړی یې دی انسان له یوې ټوټې وینې څخه، ولوله حال دا چې رب ستا لوی کریم دی، هغه (رب) چې ښوولی یې دی (خط انسان ته) په قلم سره، ښوونه یې کړې ده انسان ته د هغو شیانو چې دې پرې نه پوهیده[۲۸].

لیک او لوست د زده کړې مهم اساس دی. رسول اکرمﷺ به هغه د جنګ بندیان آزادول د چا به چې لیک او لوست زده و او مسلمانانو ته به یې لیک او لوست زده کاوه.

په اسلام کې زده کړې او علم ته دروازې خلاصې پرېښودل شوې او مسلمانان دې ته هڅول شوي چې د زده کړې او علم د لاسته راوړلو لپاره ان لیرو سیمو ته هم سفر وکړي. اسلام له بې علمۍ څخه کرکه کوي او تباه کوونکې تیاره یې ګڼي. له دې امله اسلامي حکومت مسوول ګڼل شوی چې د ټولو خلکو لپاره د زده کړې او علم امکانات برابر کړي. د زده کړې او علم حق لکه د نورو حقونو پر څیر د ټولو مسلمانانو لپاره یوشان دی.

[۲۷] العلق، ۷-۱.
[۲۸] کابلی تفسیر.

## سیاسي خپلواکي

په اسلام کې سیاسي خپلواکي د خلکو هغو حقونو ته ویل کیږي، چې له هغې څخه په استفادې سره دوی د دولت او حکومت د مشرتابه کارونه تر څارنې او پلټنې لاندې ونیسي.

سیاسي خپلواکي په ټولنیز او سیاسي ژوند او سیاسي چاپیریال کې د بل له تاثیر څخه خلاصون دی. د دې لپاره چې په سیاسي چارو کې د خپلواکۍ اصول پرځای شوي وي، د ټولنې مشرتابه او غړي متقابلاً مسوولیت لري چې د بې پرې او آزاد قضاوت لپاره اندونه، وړاندیزونه او فیصلې د کورنیو او بهرنیو عواملو او اغیزو څخه پاکې وساتي. خلک حق لري چې مشرتابه تر پوښتنې لاندې راولي او که مشرتابه د لوی څښتن ﷻ له لارښوونې او امرونو څخه لیرې شي او عدالت پرځای نه کړي، نو له دندې څخه یې هم گوښه کړي. خلک د دې حق لري چې په حکومتي مسوولیتونو او چارو کې برخه واخلي ځکه چې سیاسي چارواکي د ټولو خلکو گډ حق او مسوولیت دی، نه یواځې د یو ځانگړي توکم او یا خاصو خلکو. د مشرتابه غوره کول او ټاکل د شورا او ټاکنو له لارې رامینځته کیږي.

د حقوقي او شرعي چارو په څیر، سیاسي چارې هم لومړی د قرآن، سنت، اجماع او قیاس په رڼا کې ترسره کیږي، مگر که د یو څه او یا یوې مسئلې په هکله واضح روایت نه وي، چارواکي خپلې

فیصلې د دیني پیاوړو عالمانو لهٔ مشورې سره سم د هیواد د ملي منافعو پهٔ چوکاټ کې دننه د خپل عقل پر بنیاد چارې پرمخ بیایي.

همدا راز سیاسي چارواکي مسوولیت لري د جګړې د اعلان، سولې، د یو قرارداد د لاسلیکولو، دیپلوماسۍ، بودیجې او عامه ښیګڼو پهٔ برخو کې د چارو لهٔ متخصصینو سره سلا او مشوره وکړي.

www.Sabawoon.com Sabawoon Online د سباوون خپرونه

# ټولنیز عدالت

ټولنیزعدالت هغو حقونو او مسوولیتونو ته ویل کیږي چې لوی څښتن ﷻ انسانانو ته پرته له کوم دیني، ژبني، قومي او توکمیز توپیر څخه برابر ورکړي دي.

ټولنیزعدالت هغه ټولنیز حالت دی چې پهٔ هغې کې د یوې ټولنې د وګړو لومړنۍ اړتیاوې پوره شوي وي، عدلي نظام جاري وي، خلک د پرمختیا پر لورې روان وي او سوله او امنیت واکمن وي. ټولنیزعدالت هغه انساني کړنه ده چې د هغې پر مټ یو قدرتمند او شتمن انسان د کمزوري او بیوزلي انسان د حق څخه ننګه کوي او پهٔ ټولنه کې ټولنیزې ښیګڼې او ټولنیزه سوله رامینځته کوي. پهٔ ځاني توګه ټولنیزعدالت د بل چا مال نهٔ خوړلو، خپل خپلوانو، پهٔ ګاونډ او ولس کې لهٔ خلکو سره عامه ښیګڼې کولو، پهٔ چارو، مشورو، او جرګو کې بې پرې او عادلانه پرېکړو کولو ته ویلای شو. کهٔ یو انسان پهٔ خپل ژوند کې تعصب ونلري، پهٔ حق ولاړ وي او لهٔ هرچا سره سم او برابر ولاړ شي نو ټولنیزعدالت یې پرځای کړی دی. پهٔ دولتي او حکومتي برخو کې ټولنیزعدالت لهٔ ملي شتمنیو څخه د یو هیواد د وګړو شریکې، بې قید او شرطه او عادلانه ګټه اخستنې ته ویل کیږي.

لوی څښتن ﷻ ټولنیز عدالت د مسلمانانو د ژوند برخه او مسوولیت ګرځولی دی چې د انساني ژوند هر اړخ پکې ګډ دي.

ټولنیزعدالت او ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او علمي پرمختګ

یو په یل پورې تړلي دي، یو بل پوره کوي، او د ټولنې د روغ او رغنده جوړښت مهم توکی جوړوي. پرته د یوه له شتون څخه د بل شتون بې مانا او نیمګړی دی. کله چیرې دا توکي په برابره اندازه ولیږه تړوګه وړاندې ولاړ شي نو بیوزلي له مینځه ځي، د خلکو بنسټیزه اړتیاوې پوره کیږي، ملت د حکومت له زور زیاتي څخه په امن کې وي، په ورځنیو چارو کې فیصلې په عدل سره سرته رسیږي او انسان د فکري او جسمي خپلواکۍ په چاپیریال کې ژوند کوي.

لوی څښتن ﷻ د قرآن عظیم الشان په بیلا بیلو آیتونو کې په عدل کولو حکم کړی او فرمایي چې عدل تقوی ته نږدې دی.

اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ [۲۹].

کله د تقوی لغوي مانا ته وکتل شي؛ نو له بدو او ناوړه اعمالو څخه د ځان ساتنې په مانا ده او په حقیقت کې ځان لوی څښتن ﷻ ته نږدې کول دي. تقوی یوازې پنځه وخته لمونځ کولو ته نه وایي او متقي هغه څوک نه دی چې یوازې پنځه وخته لمونځ وکړي، بلکې متقي هغه څوک دی چې ځان له هرراز بدو او ناوړه اعمالو څخه وساتي او عدالت پرځای کړي، ځکه نه پرځای کول یې له تقوی څخه لیرې کیدل دي.

د ټولنیزعدالت او ټولنیزو ښګیڼو په هکله هراړخیزې لیکنې شوې دي چې د ټولو راوړل به دا لیکنه اوږده کړي مګر د عمومي

---

[۲۹] المآئدة، ۸.

نظریاتو د وړاندې کولو لپاره دا غوره ګڼم چې ځینې بېلګې یې دلته راواخلم.

افلاطون په خپل اثر جمهوریت کې لیکي چې عدالت هغه انساني سپېڅلتیا او فضیلت دی چې په انسانانو کې پرلپسې مقاومت، ثبات او ښېګڼه رامینځته کوي او په ټولنیزه توګه په ټولنه کې داسې پوهه رامینځته کوي چې له امله یې په ټولنه کې ټولنیز او خپلمنځی برابروالی، همغاړیتوب او ښېګڼه رامینځته کېږي.

ارسطو عدالت ته د مساوات په سترګه ګوري او په ټولنه کې د شتمنیو او اقتصادي وړتیاوو برابر ویش اړین ګڼي. دا برابرښت عمومي برابرښت نه دی بلکې د انسانونو د جسمي او فکري وړتیا او پوهې، او په ټولنه کې د هغه په مثبتې برخه اخستنې پورې تړاو لري.

عدالت د ابن خلدون د ټولنیزفکر (تیوری) مرکزي ټکی او اساس دی او د عدالت ټینګول د شریعت د قانون د عملي کولو سره تړي. که کومه اسلامي ټولنه شرعي احکام نه ترسره کوي او شریعت نه عملي کوي هغه ټولنه د عدالت څخه وځي او ټولنه د نابودۍ خوا ته ځي.

سید جمال الدین افغاني لیکي: یواځې هغه ټولنې عدالت پرځای کولای شي چې لوړ دیني او فکري معیارونه ولري. د لوړو دیني او فکري معیارونو په لرلو سره د ټولنې وګړي کولای شي د حکومت چارواکي تر نظر لاندې ونیسي او پرېنږدي چې هغوی ظلم، ناروا او بیعدالتي وکړي.

محمد عبده وايي چې عدالت يوائې د روغ عدلي جوړښت په جوړولو سره رامينځته کيداى شي او دا عدلي جوړښت بايد تل د بيا شکل نيولو په حالت کې وي ترڅو د ټولنې اړتياوې پوره کړاى شي.

ابوالاعلى مودودي ليکي چې صحيح او رښتيني عدالت هغه وخت رامينځته کيږي چې کله چيرې يو کس ته يوه دنده سپارل کيږي هغه بايد داسې فکر ونکړي چې دى هغه يوائنى موجود دى چې ورسپارل شوى دنده سرته رسولاى شي، يا هغه څه وکړي چې زړه يې غواړي او يا د خپلو ګټو لپاره کار وکړي، بلکې ورسپارل شوې دندې ته د امانت په سترګه وګوري او د لوى څښتن ﷻ د رضا لپاره خپله دنده پرمخ بوځي.

سيد قطب وايي چې ټولنيز عدالت هغه وخت رامينځته کيدى شي چې انسان په فکري، روحي او جسمي لحاظ د غلامۍ د قيد او شرط څخه ازاد وي، د چا پيرو نه وي او يوائې لوى څښتن ﷻ ته پيرو وي.

ټول انسانان لوي څښتن ﷻ سره نيغ په نيغه سيده او په پوره برابرۍ سره د راز او نياز لار لري او د لوي څښتن ﷻ څخه هرڅه پخپله غواړي. همدا ازادي او له لوى څښتن ﷻ څخه ويره او غوښتنه ده چې د ټولنيز عدالت بنسټونه ټينګوي.

د اسلامي علماوو د اندونو په نظر کې نيولو سره او د قرآني لارښوونو په لارښوونه کې موږ دا ويلاى شو چې په اسلامي ټولنه کې ټولنيز عدالت د جايداد او شتمنيو په عادلانه، با انصافه،

روښانه، خواخوږي او بښغالو ويش، د خلکو د بنستيزو اړتياوو د پوره کولو، او د ځواکمنو او شتمنو پۀ بدل کې لۀ کمزورو او بيوزلو څخه د ساتنې اوننګې د اصولو پر بنيادونو ولاړ دی. نۀ يوائې دا چې يو مسلمان لۀ بل مسلمان سره د عدالت پۀ عملي کولو کې مسوولیت لري، بلکې مسلمان مسوول ګڼل شوې چې د هر انسان پۀ مقابل کې لۀ عدالت څخه کار واخلي، سره لۀ دې چې هغه يې مخالف او يا دښمن هم وي. لوی څښتن ﷻ پۀ قرآن عظيم الشان کې فرمايي:

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ۚ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا[۳۰].

**ژباړه:** بيشکه الله امر کوي پۀ تاسې (ای مؤمنانو) چې وسپارئ تاسې امانتونه اهل د امانتو ته او کله چې حکم کوئ تاسې پۀ مينځ د خلکو کې نو حکم وکړئ پۀ انصاف سره! بيشکه الله ښه شی پند درکوي تاسې ته پۀ هغه سره (چې د امانتونو ادا او پۀ عدل سره حکم کول دي). بيشکه چې الله ښۀ اوريدونکی ښۀ ليدونکی دی[۳۱].

همدا راز الله ﷻ بيا فرمايي:

---

[۳۰] النسآء، ۵۸.

[۳۱] کابلی تفسير.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ[۳۲].

**ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی (ای مؤمنانو) او سئ تاسې محکم ولاړ (په حق باندې) لپاره د الله (او سئ تاسې) شاهدان په قسط (عدل او انصاف) سره او نه دی باعث کړی تاسې دښمني د یو قوم په دې باندې چې عدل او انصاف به ونکړئ تاسې. عدل وکړئ تاسې، همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوی ته او وویریږئ تاسې له الله (نو ظلم مه کوئ)، بیشکه چې الله ښه خبردار دی په هغو اعمالو چې کوئ یې تاسې[۳۳].

له پورتنیو لارښوونو څخه پوره څرګنده ده چې مسلمانانو او ټولو انسانانو ته د هغوی د حقه حقونو ورکول، پر هغوی باندې د ټولنیزو ګټو ویشل، د هغوی د لومړنیو او بنسټیزو اړتیاوو پوره کول او د هغوی په اړه د فیصلو پر وخت له عدل او انصاف څخه کار اخستل د هر مسلمان فریضه ده او نه پرځای کول یې د لوی څښتن جل جلاله له اوامرو څخه سرغړونه ده.

---

[۳۲] المآئده، ۸.

[۳۳] کابلی تفسیر.

بل مهم ټکی چې له پورتنیو لارښوونو څخه لاس ته راځي، هغه په ټولنه کې د وګړو ترمینځ د حقونو برابري او همغږي ده. اسلام دا مني چې انسانان د بیلابیلو ظرفیتونو او پوهې سره پیدا شوي دي. لکه څنګه چې انسانان په وجود، جوړښت، او رنګ کې یو له بل څخه توپیر لري، همداراز دوی په ذهن، عقل، پوهه او نورو وړتیاوو کې هم یو له بل څخه توپیرلري. د انسانانو د زیږیدنې ځای، د هغوی جغرافیایي چاپېریال، د هغوی فزیکي او کورنی حالت او د هغوی بیولوژوکي او ارثي ځانګړتیاوې د انسانانو په ذهن، پوهه او ژوند ژورې اغیزې لري.

له دې امله ټولنیز او اقتصادي توپیرونه هم د انسانانو یو طبیعي حالت ګڼل کیږي. سره له دې چې لوی څښتن ﷻ د قرآن عظیم الشان په بیلابیلو آیتونو کې مورږ ته د انسانانو ترمینځ توپیر راپه ګوته کوي، مګر قراني آیتونو او د رسول اکرم ﷺ احادیثو د شتو او شتمنۍ او د شتمن او نیستمن ترمینځ د تفاوت عقلي حدود ټاکلي دي. اسلام د انسانانو ترمینځ د اقتصادي وړتیاوو او شتمنیو په مساوي ویش حکم نه کوي، مګر اسلام په عادلانه، باانصافه، روښانه، خواخوږي او بېغالو ویش باندې حکم کوي.

اسلام د دې اجازه نه ورکوي چې یو دې د شتمنیو په لرلو سره د هوسا او غنا ژوند تیروي او بل دې لوږه او تنده تیروي. لوی څښتن ﷻ انسانانو ته د دې اجازه نه ورکوي چې مال، دولت، سره او سپین امبار کړي او د لوی څښتن ﷻ په لار او د ټولنې په ښیګڼه کې

يې ونه لګوي. همدا وجه ده چې لوی څښتن ﷻ په قرآن عظيم الشان سورة التوبه کې فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنْفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ {۳۴} يَوْمَ يُحْمَىٰ عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنُوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ هَٰذَا مَا كَنَزْتُمْ لِأَنْفُسِكُمْ فَذُوقُوا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُونَ {۳۵}[۳۴].

**ژباړه:** اې مؤمنانو! واقعاً چې (داهل کتابو) زياتره عالمان او پيروان په ناروا توګه د خلکو مالونه خوري او د الله له لارې ايسارول کوي، او هغو خلکو ته هم د دردناکې سزا زيرې ورکړه چې سره او سپين ذخيره کوي او د الله په لار کې يې نه لګوي. په هغه ورځ چې د غه خزانې به د دوزخ په اور سرې شي بيا به يې تندي، اړخونه او شاګانې پرې داغل کيږي. (ورته وبه ويل شي) دا ده هماغه خزانه چې تاسو خپلو ځانو ته راغونده کړې وه (اوس) نو وڅکئ هغه چې تاسو ذخيره کول.[۳۵]

---

[۳۴] سورة التوبه ۳۴-۳۵.

[۳۵] روانه او ساده ژباړه، مولوي فاروق غلجی.

څرنګه چې اسلامي اقتصادي جوړښت ټولو انسانانو او په ځانګړې توګه مسلمانانو ته د هغوی د بنسټیزو اړتیاوو د پوره کولو ضمانت ورکوي لۀ دې امله اسلامي حکومتونه او یا په اسلامي هیوادونو کې حکومتونه مسوولیت لري چې دا اړتیاوې پوره کړي. د اسلامي ټولنو حکومتونه مسوولیت لري چې خلکو ته ټولنیزمسئونیت برابر کړي.

همدارازد اسلامي حکومتونو مسوولیت دي چې بزګر، کارګر او د ټولنې نور غړي د شمتنو او ځواکمنو زورواکو د استثمار، ظلم او زیاتې څخه وساتي. همدا وجه ده چې اسلام سود، استثمار، ظلم او زیاتی ناروا ګرځولي دي، ځکه سود، استثمار، ظلم او زیاتی د بیعدالتۍ وروستۍ اندازه ګڼل شوې ده. استثمار، ظلم او زیاتی نۀ یواځې لۀ سود څخه رامینځته کیږي بلکې رشوت، جواري (قمار)، ګونګه او ناڅرګنده تجارتي معامله، انحصار، اختلاس، ټګي او غالې کول، زنا او فحشا، او داسې نورو ناوړه اعمالو څخه هم رامینځته کیږي چې اسلام دا ټول ناروا او حرام ګرځولي دي. ابن حزم الأندلسي پۀ خپل کتاب المحلی بالآثار کې لیکي چې لۀ رسول اکرم ﷺ څخه روایت دی:

> د آدم زوی (انسان) پرته لۀ دې نه بل کوم حق نۀ لري چې یو کور ولري چې پۀ هغې کې ژوند وکړي، یوه جوړه جامې ولري چې پۀ هغې یې د وجود لوڅوالی پټ شي، یوه ټوټه ډوډۍ ولري او څۀ اوبه ولري. همدراز لۀ حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت دی: کۀ پۀ هغه څۀ چې زه

اوس پوهيږم، ښخوا پوهيدی، ما به هيڅکله هم ځنډ نه واي کړی او په يقين سره به مې د شتمنو شتمني په غريبو مهاجرو ويشلې وای. او له علي کرم الله وجهه څخه روايت دی: لوی څښتن ﷻ په شتمنو باندې فرض گرځولې چې د بيوزلو بنسټيزې اړتياوې پوره کړي. که هغوی وږي وي او يا لوڅ او يا په نورو مالي ستونزو کې اخته وي، علت يې دا دی چې شتمن خپله دنده او مسووليت نه ترسره کوي. له دې امله لوی څښتن ﷻ به له هغوی څخه د حساب او فيصلې په ورځ پوښتنه وکړي او هغوی ته به اړونده سزا ورکړي[۳۲].

ټولنيزعدالت يوازې په اقتصادي برخه کې نه را لنډيږي بلکې گناهگار ته د قانون پر اساس سزا ورکول او د قانون پرځای کولو ته هم ټولنيزعدالت ويل کيږي. کله چې حکومتي او دولتي څانگې له خپل قدرت څخه روا استفاده کوي، د قانون د اصولو مراعات، څارنه او پاملرنه کوي نو ټولنيزعدالت پرځای کيږي.

حکومت د ټولنيزعدالت د اصولو او غوښتنې پر اساس مسووليت لري چې د خلکو حق پرځای کړي، د ولس له حق څخه په کورني چاپيريال کې او په نړيواله کچه ننگه وکړي. له عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول اکرم ﷺ فرمايلي دي:

[۳۲] المکتبة الشاملة، دريم بحث.

أَلاَ كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ فَالأَمِيرُالَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ...[۳۷]

**ژباړه:** وپوهيږئ، تاسې هر يو ساتونکي ياست او تاسې هر يو د خپلو وګړو (دحالت) پۀ هکله ځواب ورکوونکي ياست. واکمن (امير) د خپل ملت ساتونکی دی او د ملت پۀ هکله به ترې پوښتنه کيږي...

د حکومت مسووليت نۀ يوائې د ولس پۀ ټولنيزو، اقتصادي او عدلي چارو کې اړين او اغيزمن دي، بلکې حکومت مسووليت لري چې حتی د واده کولو پۀ مسايلو کې هم د خپلو وګړو ساتونکی وي. رسول اکرمﷺ فرمايلي دي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ "لاَ نِكَاحَ إِلاَّ بِوَلِيٍّ" . وَفِي حَدِيثِ عَائِشَةَ "وَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لاَ وَلِيَّ لَهُ"[۳۸].

**ژباړه:** پرته د واک لرونکي مشر (ولي) څخه نکاح نۀ کيږي...او سلطان (حکومت) د هغه چا واک لرونکی مشر (ولي) دی چې واک لرونکی (مشر) نۀ لري.

ټولنيزعدالت پۀ ټولنه کې ولسي، کلتوري او ټولنيز پوخوالی رامينځته کوي، ځکه د ټولنې وګړي خپل ځان، خپله ټولنه او د

---

[۳۷] صحيح البخاري، کتاب الاماره، ۱۸۲۹.

[۳۸] سنن ابن ماجه، کتاب النکاح، ۱۸۸۰.

خپلې ټولنې وګړي په ښه توګه پېژندی شي. د ټولنې د وګړو ترمينځ د سپينو، آزادو او صادقانه خبرواترو لار خلاصيږي، او د ټولنې د وګړو په مينځ کې د اعتماد فضا او يو بل ته د نيک نظر اړيکې ټينګيږي.

د ټولنيزعدالت رامينځته کول يواځې د حکومت د چارواکو او يا د ځينو ګوتو په شمېر کسانو مسووليت نهٔ دی، بلکې د ټولنې ټول غړي او ټولنيزبنسټونه بيلابيل مسووليتونه لري.

حکومت، ولس ته مسووليت لري او ولس، حکومت ته مسووليت لري.

همدارنګ د ولس وګړي يو بل ته مسووليت لري او يو د بل د چارو او اعمالو څارنه کوي. د بېلګې په توګه يو مسلمان چې زکات پرې فرض کيږي، مسووليت لري چې زکات اړو کسانو ته ورکړي. کهٔ د شتمن کس د زکات په ورکولو سره د اړ کس لومړنۍ اړتياوې لهٔ مينځه ولاړې نهٔ شي او ژوند يې په لوږه او سخته کې تيريږي، شتمن کس د ديانت لهٔ مخې مسووليت لري چې د زکات تر څنګ لهٔ نوموړي کس سره نوره مرسته هم وکړي ترڅو د هغه ابتدايي اړتياوې پوره شي.

پهٔ اسلام کې د ټولنيزعدالت غوره بېلګه رسول اکرمﷺ او د هغه ياران دي. لهٔ أبي سعيد الخدريؓ څخه روايت دی چې رسول اکرمﷺ فرمايلي دي:

"مَنْ كَانَ عِنْدَهُ فَضْلُ ظَهْرٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لاَ ظَهْرَ لَهُ وَمَنْ كَانَ

عِنْدَهُ فَضْلُ زَادٍ فَلْيَعُدْ بِهِ عَلَى مَنْ لاَ زَادَ لَهُ". حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ لاَ حَقَّ لأَحَدٍ مِنَّا فِي الْفَضْلِ[39].

**ژباړه:** څوک چې اضافه د سورلۍ څاروی لري باید هغه چا ته یې ورکړي چې څوک د سورلۍ څاروی نلري. هرڅوک چې د خپل ضرورت څخه ډیر سامان (شته) لري، خپل اضافه سامان (شته) باید د دیانت له مخې هغه چا ته ورکړي چې څوک سامان (شته) نلري. صحابه وايي: موږ فکر وکړ چې موږ د هیڅ راز شخصي اضافي شتو د ساتلو حق نلرو.

د اسلام لومړي خلیفه ابوبکرصدیق رضي الله عنه له خپلو څلویښت زرو (۴۰۰۰۰) درهمو څخه پنځه دیرش زره (۳۵۰۰۰) درهم په هغو مسلمانانو وویشل چې د اسلام په دین د مشرف کیدو له امله د قریشو لخوا وهل شوي او رټل شوي وو او جایدادونه یې قریشو غصب کړي وو. یو وخت علي بن ابي طالب کرم الله وجهه د خوراک لپاره یوائې دري ډوډۍ درلودې. یوه ډوډۍ یې د ایثار[40] په توګه حاجتمند ته ورکړه، دوهمه ډوډۍ یې یو یتیم ته ورکړه او دریمه ډوډۍ یې د جنګ یوه بندي ته ورکړه.

---

[39] سنن أبي داؤد، کتاب الزکاة، ۱۶۶۳.
[40] ایثار په خپله اړتیا سترګې پټول او د بل چا اړتیا ته لومړیتوب ورکول ته وايي.

لۀ دې ټولو څخه څرګندیږي چې پۀ اسلامي ټولنه کې د ټولنیز عدالت پلي کول نۀ یوازې د حکومت او ولس مسوولیت دی بلکې خدايي حکم هم دی چې هر مسلمان يې بايد پرځای کړي. مسلمان بايد د کمزورو او بېوزلو د حق ننګه کوونکی واوسي او هڅه وکړي چې کمزوري او بېوزلي د لوی څښتن ﷻ لۀ نعمتونو څخه بې برخې نشي. پۀ هغه ټولنه کې چې ټولنیزعدالت حاکم وي، د هغې ټولنې وګړي لۀ مساوي حقونو څخه برخمن وي او د هیچا پۀ حق تیری نشي کیدی. چیرته چې ټولنیزعدالت ټینګ وي، هلته لوږه، غربت، کمزورتیا، بېوزلي او تیری نۀ وي. ټولنیزعدالت پۀ انسانانو کې او پۀ ځانګړې توګه پۀ مسلمانانو کې د داسې يو فطرت پیدا کولو ته وايي چې پۀ قدرت او قوت باندې تکیه نۀ وي، بلکې انساني کرامت، عدالت، او ټولنیز روغوالی او یووالی يې د ټولنې او ولس د ژوند لارښود وي او د دې ټولنې او ولس د ټینګښت او ودې بنیادونه جوړوي.

# ولسي چارواکي

د اسلام دین یوازې پر عباداتو ولاړ نهٔ دی، بلکې لهٔ عباداتو سره اوږه پهٔ اوږه معاملات هم د اسلامي لارښوونې ستره برخه ده او د مسلمانانو د ژوند او چارو لپاره یې پهٔ دواړو ځانګو کې بشپړه تګلار روښانه کړې ده. لهٔ دې امله د اسلامي ټولنې پهٔ رغاونې او پرمختګ کې د مسلمانانو ذهني وده او پراخوالی مهم توکی ګڼل کیږي او پهٔ دې ټینګار شوې چې لهٔ دې ذهنې ودې او پرمختګ څخه پهٔ شخصي خوی او کړنو او ټولنیزو اړیکو کې کار واخستل شي. اسلام د مسلمانانو د ځانګړي، کورني او ټولنیز ژوند، او د دولت او حکومت پهٔ کچه ژوند لپاره عمومي لارښوونې لري.

د انساني او ټولنیزو اړیکو لپاره هم اخلاقي او د جوړښت دودونه او بنسټونه لري. لکه د نورو دینونو پهٔ څیر، اسلام هم د انسان د ژوند او چاپیریال لپاره عمومي لارښوونې لري، مګر څنګه چې د انسانانو ژوند د بدلون او پرمختګ پهٔ حال کې دی، لهٔ دې امله اسلام دا پریکړه انسانانو ته پریښې ده چې د وخت او حالاتو لهٔ غوښتنې سره سم د اسلامي لارښوونې پهٔ رڼا کې د خپل ځان، ټولنې او خاورې پهٔ هکله اړونده فیصلې وکړي.

لومړي تر هرڅه دا اړینه ده چې د ولسي چارواکۍ پیژندنه وشي ځکه ولسي چارواکي لوید یځه ډیموکراسي یا ولسواکي نهٔ ده، ځکه پهٔ ډیموکراسۍ او ولسواکۍ کې خلک واکمن وي، مګر پهٔ ولسي چارواکۍ کې لوی څښتن ﷻ واکمن دی او خلک د چارو

چاروا کي دي. پهٔ ولسي چارواکۍ کې د ټولنې سیاسي جوړښت او سیاسي کړنلاره د قرآن، سنت، اجماع او قیاس د بنسټونو پهٔ رڼا کې د وحدانیت، رسالت او استازیتوب د اصولو پربنسټ جوړیږي او د لوی څښتن ﷻ د امر او نهې ټول احکام او اوامر ترسره کیږي.

لوی څښتن ﷻ د انسانانو لپاره حقونه او صلاحیتونه ټاکلي دي چې د بل انسان لخوا د هغې لپاره اندازې نشي ټاکل کیدی او یا د بل انسان د ژوند پهٔ هکله د لوی څښتن ﷻ لهٔ اوامرو او لارښوونې څخه بهر کوم هوډ نیول کیدی شي او یا کومه پریکړه کیدی شي. پهٔ ولسي چارواکۍ کې دولت او حکومت د اسلامي اصولو پهٔ محدوده کې جوړیږي چې ستره موخه یې انسانانو ته خدمت کول، د ټولنې د پرمختګ لپاره کار کول او پهٔ ټولنه کې د ټولنیزعدالت ټینګول دي. څرنګه چې پهٔ ولسي چارواکۍ کې واکونه او مسوولیتونه د ټولنې لهٔ وګړو سره دي نهٔ د یو مشخص کس سره یا لهٔ یوې مشخصې ډلې سره، لهٔ دې امله استازیتوب او چارواکي کول هم د یوې ټولنې د ټولو وګړو حق او مسوولیت دی. لوی څښتن ﷻ پهٔ قرآن عظیم الشان کې فرمایي:

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ [۴۱].

**ژباړه:** الله لهٔ مؤمنانو سره وعده کړې ده چې خامخا به یې

---

[۴۱] النور، **۵۵**.

> پۀ ځمکه کې هماغه شان خلیفه ګان وګرځوي لکه هغه خلک چې لۀ دوی مخکې یې خلیفه ګان کړي وو.[۴۲]

لۀ دې څخه څرګندیږي چې استازیتوب کول، چارواکي پرمخ بوتلل او مسوولیت لرل لۀ تقوی، ښه عمل او نیکو کارونو سره تړلي دي. د ټولنې هر وګړی لومړی د لوی څښتن ﷻ پۀ وړاندې مسوولیت لري او هغه ته ځواب ویونکی دی او بیا د خپل ولس او ټولنې پۀ وړاندې مسوولیت لري او ولس او ټولنې ته ځواب ویونکی دی.

څرنګه چې د اسلام اصل پۀ شورا ولاړ دی لۀ دې امله پۀ ولسي چارواکۍ کې د وخت او زماني د شرایطو او غوښتنې پراساس د دنیوي چارو د پرمختګ لپاره د اسلامي اصولو پۀ رڼا کې د تلپاتې پریکړو او قوانینو رامینځته کول یوه مهمه اړتیا ده. د دې پریکړو، قوانینو او لارښوونو رامینځته کول، پۀ ځانګړې توګه د دولت د اداري جوړښت پۀ هغو برخه کې چې ځانګړې الهي پراخه لارښوونې پکې شتون ونه لري او یا قرآن او حدیثو د هغوی پۀ هکله عمومي لارښوونه کړې مګر ځانګړتیاوې (جزیات) یې نۀ دي تشریح کړي، اړین شمیرل کیږي. دا فیصلې، قوانین او لارښوونې رامینځته کول یوازې د لاسونو پۀ پورته کولو، رایې اچولو یا د شنو او سرو کارتونو پۀ ښوولو سره نۀ رامینځته کیږي، بلکې د

---

[۴۲] روانه او ساده ژباړه، مولوي فاروق غلجی.

پوهه عالمانو د ژور علمي بحث، څېړنې او اندونو لهٔ تبادلې څخه وروسته رامينځته کېږي.

پهٔ اسلام کې حکومتداري کول او ولسي چارواکي پرمخ بوتلل اصل او هدف نهٔ دی، بلکې يوه وسيله ده. اصلي موخه د ټولنې د وګړو د ظرفيتونو لوړول او د وړتياوو پرمختګ دی، ترڅو خلک د خپلو حقه حقونو، خپلواکۍ او عدالت غوښتنه وکړای شي. خلک د ښو او بدو ترمينځ فرق وکړای شي، حکومت او خلک داسې يو ټولنيز حالت رامينځته کړي چې پهٔ هغې کې د ټولنې ټول وګړي لهٔ فکري او جسمي پلوه خونديتوب ولري او د خدايي قانون پهٔ سيوري کې پرته لهٔ ډار او وېرې څخه هوسا ژوند تير کړي.

د دې لوړوالي او وړتياوو د لوړولو پهٔ خاطر چارواکې د ولس پهٔ مقابل کې بيلابيل ورځني او همېشني مسووليتونه لري. لهٔ دې امله د ولسي چارواکۍ اصل پهٔ دې کې دی چې يو ملت د بلې ټاکنيزې دورې تر پايته رسيدو پورې انتظار نهٔ کوي چې پهٔ يو نظام کې بدلون راولي، بلکې پهٔ پرلپسې توګه پهٔ ورځنيو چارو کې برخه لري او هر وخت د دې واک لري چې لهٔ ټاکل شوو واکمنانو سره حساب وکړي او بدلون رامينځته کړي.

کهٔ حکومت د شريعت پرلار روان نهٔ وي او چارواکان د اسلامي سپارښتنو، اصولو او لارښوونو پراساس خپلې چارې سرته نهٔ رسوي، چارواکی لهٔ قانون څخه سرغړونه کوي، د خلکو اړتياوې نهٔ پوره کوي او ټولنه لهٔ فساد او بيعدالتۍ څخه رنځ وړي، ولس د

دې واک لري چې چارواکی (خلیفه، امیر، ولسمشر) لهٔ کار څخه گوښه کړي. لهٔ علي کرم الله وجهه څخه روایت دی چې رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي:

لاَ طَاعَةَ فِي مَعْصِيَةٍ، إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ[۴۳].

**ژباړه:** پهٔ گناهي (غیرشرعي) چاروکې اطاعت پکار نهٔ دی.

پیروي یوائې د حق پهٔ لار کې پکار ده. بل ځای کې لهٔ معاذ ابن جبل رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي:

لَا طَاعَةَ لِمَنْ لَمْ يُطِعْ اللَّهَ [۴۴].

**ژباړه:** د هغهٔ چا اطاعت نشته څوک چې الله جل جلاله اطاعت نهٔ کوي.

همدارز بل ځای کې رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي:

لاَ طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ [۴۵].

**ژباړه:** د مخلوق اطاعت د خالق پهٔ ناخوښۍ کې روا نهٔ دی.

لهٔ دې څخه پهٔ زغرده څرگندېږي چې د ټولنې او ولس وگړي د دې واک او مسوولیت لري چې د چارواکو د چارو څار وکړي او د

---

[۴۳] صحیح البخاري، کتاب أخبار الآحاد، ۷۲۵۷.

[۴۴] د احمد ابن حنبل مسناد، ۱۲۷۴۸.

[۴۵] سنن الترمذي، کتاب الجهاد، ۲۹: ۱۷۰۷.

هغوی پهٔ ټولو چارو رغنده نیوکې وکړي او سمې لارې ته یې برابر کړي. هر مسلمان مکلفیت لري چې پهٔ خپله ټولنه کې د بدو مخه ونیسي او د ټولنې وګړي ښو او نیکو اعمالو ته وهڅوي. لهٔ ابو سعید الخدري﷛ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

> أَفْضَلُ الْجِهَادِ مَنْ قَالَ كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ أَوْ أَمِيرٍ جَائِرٍ[۴۲].

> **ژباړه:** د جهادونو لهٔ جملې څخه لوی جهاد هغه دی چې د هغه پاچا یا چارواکي پهٔ مخ کې واقیعتونه ووایي او رښتیا راڅرګنده کړي چې د حق او عدالت لهٔ لارې څخه لیرې شوي وي (غوره جهاد د ظالم حاکم پهٔ وړاندې د حق وینا ده).

کهٔ د سیاست پهٔ نوې ژبه خبرې وکړو نو ویلای شو چې پهٔ ولسي چارواکۍ کې د چارو اصول د قانون د حاکمیت پر اساس ولاړ دي. پهٔ دې سیاسي نظام کې خلک خپل استازې ټاکي چې پهٔ مرکزي حکومت او ولسي جرګه (شورا) کې د دوی استازیتوب وکړي او د دوی د ګټو او رغاونې لپاره کار وکړي. ځینې کسان داسې څرګندونې کوي چې ګواکې اسلام ټاکنو (ټاکل، رای ورکول او رای اخستل) او چارواکۍ ته د نوماندیو اجازه نهٔ ورکوي، مګر کهٔ د رسول اکرم ﷺ د یارانو او پهٔ ځانګړې توګه د لومړیو څلورو خلفاوو

---

[۴۲] سنن ابو داود، کتاب الملاحم، **۴۳۴۴** او سنن النسائي، کتاب البیعة، **۴۲۰۹**.

ژوند او چارې وڅېړل شي، دا څرګندېږي چې په اسلام کې هم د ټاکنو اجازت شته او هم چارواکي ته نوماندېدل شته. د راى وركولو غوره بېلګه د دويم خليفه عمر﵁ لخوا د هغې كميټې د غړو وړانديز و چې له هغه څخه وروسته خليفه وټاكي.

كله چې عمر﵁ ټپي شو او د مرګ په حالت كې و نو اصحابو ترې غوښتنه وكړه چې راتلونكى خليفه وټاكي. ځينو وړانديز وكړ چې عبدالله بن عمر﵁ دې د راتلونكي خليفه په توګه وګوماري. د دې وړانديز په مقابل كې عمر﵁ ځواب وركړ چې د لوى څښتن ﷻ قهر دې وي پر تاسې چې ما دې ته هڅوئ چې خپل زوى د خليفه په توګه وټاكم، حال دا چې لوى څښتن ﷻ ته ورتلونكى يم. د ډېرو وړانديزونو او د اصحابو له ټينګار څخه وروسته عمر﵁ د شپږو اصحابو [سعد بن ابي وقاص، عبدالرحمن ابن عوف، زبير بن الاعوام، طلحه ابن عبيدالله، على ابن ابي طالب، او عثمان ابن عفان رضي الله عنهم] كميټه جوړه كړه چې له خپل مينځ څخه يو كس د رايو په اتفاق د راتلونكي خليفه په توګه وټاكي. له خبرو، بحث او واك اخستلو څخه وروسته عثمان ابن عفان﵁ د ټولو په اتفاق د دريم خليفه په توګه وټاكل شو.

چارواكي ته د نوماندېدلو او د چارواكي د منصب د غوښتلو په هكله به لاندېني آيات د اوسني بحث لپاره كافي وي. يوسف ؑ د مصر پاچا ته وويل:

قَالَ اجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَائِنِ الْأَرْضِ ۖ إِنِّي حَفِيظٌ عَلِيمٌ[۴۷] .

**ژباړه:** وویل (یوسف پاچا ته) چې مقرر کړه پر خزانو د ځمکې (د مصر)، بیشکه زه ښهٔ ساتونکی (د اموالو) ښهٔ پوه یم (پهٔ وجوه د تصرفاتو او جذب د فوایدو).

همدا راز سلیمان علیه السلام لهٔ لوی څښتن جل جلاله څخه د پاچاهۍ غوښتنه کړې ده.

قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَّا يَنبَغِي لِأَحَدٍ مِّن بَعْدِي ۖ إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ[۴۸].

**ژباړه:** وویل (سلیمان) ای ربه زما ! وبخښه ما او راکړه ماته داسې ملک (پادشاهي) چې ونه ښائي بل هیچا لره وروسته لهٔ ما (اوغیر لهٔ ما) څخه، بیشکه همدا ته ډیر بخښونکی ورکونکی یې[۴۹].

پهٔ ولسي چارواکۍ کې د لوی څښتن جل جلاله د واکمنۍ د سیورې پهٔ رڼا کې د چارواکۍ توان او پرېکړه د خلکو پهٔ لاس کې وي. د یو هیواد وګړي د هیواد او ولس لپاره پهٔ تصمیم نیولو کې فعاله برخه لري او پهٔ نیغه او ښکاره توګه د هیواد او ملت د ورځنیو سیاسي،

[۴۷] یوسف، ۵۵.
[۴۸] ص، ۳۵.
[۴۹] کابلی تفسیر.

ټولنیزو او حکومتي چارو په هکله فیصلې کوي او خپل مسوولیت سرته رسوي. فیصلې له کلیو او بانډو څخه پیلیږي او د ټول ولس او ملت کچې ته رسیږي. سره له دې چې ټول وګړي په پریکړه کولو کې حق لري، مګر هغه کسان چې په مسایلو پوه وي، معلومات یې د نورو پر پرتله ډیر، پراخه او ګټور وي، اغیزمن ثابتیږي. له دې امله فیصلې له ډیرو خبرواترو وروسته د راټول شوو کسانو د سلا او مشورې پر اساس سرته رسیږي.

له پورتني بحث څخه څرګندیږي چې ولسي چارواکي په ټولنه کې انصاف او عدالت ټینګوي، په ټولنه کې داسې ټولنیزې او اقتصادي اړیکې ټینګوي چې د هغې په سیوري کې هر انسان په خپلواکۍ، شرافت او حیثیت کې ژوند کوي. په ولسي چارواکۍ کې دولت او حکومت نه یوازې دا چې د لوړو اخلاقي معیارونو پر اصولو ولاړ وي بلکې دا لوړ اخلاقي معیارونه د ټولنې د نر او ښځې د ژوند برخه هم ګرځوي.

# پایله

کله چې د اسلامي حکومتدارۍ او اسلامي لارښوونو په رڼا کې د ولسي چارواکي بحث رامینځته کیږي نو لومړی خبره چې د انسان ذهن ته راځي هغه د محاسبې خبره ده چې له بده مرغه د اسلامي هیوادونو په دولتي او حکومتي چارو کې نه لیدل کیږي.

محاسبه هغه وخت کیدای شي چې چارواکي د کار وړتیا ولري، متقي او سپیڅلي وي، صداقت او ایمانداري ولري، د لوی څښتن ﷻ څخه ویره ولري او په چارو کې عدل وکړي. له دې امله په اسلام کې دولت او حکومت انسان ته د خدمت، د انسان د فکر او آزادیو د ودې او الهي اوامرو د پرځای کولو لپاره جوړیږي.

په اسلامي سیاسي نظام کې د دولت، حکومت او چارواکو ستره موخه د انساني ژوند د ساتنې، پالنې او پرمختګ لپاره د نوو لاروچارو لټون، انسانانو ته خدمت کول، د ټولنې د پرمختګ لپاره کارکول او په ټولنه کې د وګړیز او ټولنیز عدالت ټینګول دي.

د اسلامي دولتدارۍ او حکومتدارۍ اصول د شرعي موخو (مقاصد الشرعیة) په رڼا کې، چې په دریو برخو ویشل شوی، جوړشوي دي: ضروري، حاجتي او تحسیني. دا هریو ځانته جلا بحث لري، مګر هغه څه چې په دې لیکنې پورې تړاو لري د ضروري برخه ده چې د راتلونکې سیاسي نظام بنسټ پرې باید کښېښودل شي.

د شرعي مقاصدو ضروري برخه په پنځوو اصولو ویشل شوې ده: دین، نفس، نسل، مال او عقل. په اسلامي ټولنو کې هر حکومت او په ځانګړې توګه اسلامي حکومت د دې اصولو د ساتلو او پاللو مسوولیت لري.

# دولتي او حکومتي جوړښت

د پورتنیو هیلو د پوره کولو په خاطر او په افغانستان کې د خپلواکۍ د ټینګولو، تلپاتې سولې او غښتلي ولسي سیاسي نظام د مینځته راوړلو، د بشپړ اساسي قانون او ټولنیز عدالت د رامینځته کولو لپاره یو ګډ ریاستي او پارلماني جمهوري نظام یواځینۍ د حل لار ده. دا نظام په نورو هیوادونو کې هم شته مګر، د افغانستان لپاره پکښې ځینې ځانګړنې په پام کې نیول شوي دي.

د افغانستان دولتي او حکومتي جوړښت به د لاندنیو ځواکونو له جوړښت څخه جوړ وي:

۱. اجراییه ځواک

۲. مقننه ځواک

۳. قضاییه ځواک

## ۱. اجراییه ځواک

اجراییه ځواک په دوو برخو ویشل کیږي: ولسمشري او لومړی وزارت.

**الف: ولسمشري**

ولسمشري د ولسمشر او ولسمشر له مرستیال څخه جوړه ده. ولسمشر خپل مرستیال د اسلامیت، کفایت او وړتیا پر اساس غوره کوي نه د قومیت او ویش پر اساس. کیدای شي دواړه د یو قوم څخه وي او یا هم د بیلابیلو قومونو څخه.

د افغانستان ولسمشر به پهٔ لاندنیو برخو کې واکونه ولري:

۱. ولسمشر د دولت مشر او د پوځ ستر قوماندان دی.

۲. د افغانستان د عمومي کورني او بهرني سیاست د چارو او لارښوونو مسوولیت.

۳. د افغانستان استازیتوب پهٔ نړیواله کچه او د نړیوالو قراردادونو لاسلیکول.

۴. د ولسي جرګې د پنځهٔ اویا سلنې (۷۵٪) رایو اخستنې څخه وروسته بل هیواد سره د جګړې اعلانول.

۵. د کورنیو او بهرنیو عواملو لهٔ امله پهٔ هیواد کې د بیړني حالت اعلانول.

۶. د قوانینو د رامینځته کولو او د هیواد د نورو مهمو مسئلو پهٔ اړه د ولس نه د ټولپوښتنې حق او صلاحیت.

۷. د لومړي وزیر منل.

۸. د وزیرانو منل او نهٔ منل.

۹. د قانون پهٔ توګه د ولسي جرګې لخوا د منل شوو مسودو، منل، نهٔ منل او لاسلیک کول.

۱۰. د ملي دفاع وزارت.

۱۱. د بهرنیو چارو وزارت.

www.sabawoon.com Sabawoon Online

۱۲. ملي امنیت.

۱۳. لویه څارنوالي.

۱۳. ستره محکمه.

۱۴. د علماوو شورا.

ولسمشر د پورتنیو وزارتونو وزیران، د ملي امنیت ریس، لوی څارنوال، قاضي القضات او د سترې محکمې قاضیان او د علماوو شورا غړي ولسي جرګې ته ورپیژني او د ولسي جرګې د منلو وروسته یاد کسان خپلې دندې پرمخ بیایي.

## ولسمشریزه ټاکنیزه جرګه

د نفوسو د شمیرې پر بنسټ به د ولسوالیو په کچه د ولسمشر د ټاکلو لپاره ولسمشریزه ټاکنیزه جرګه جوړیږي او غړي به یې لاندنۍ ځانګړتیاوې او محدودیتونه لري:

۱. افغان وي او د ښه نوم خاوند وي.

۲. عمر یې دیرش کاله او یا ډیر وي.

۳. په ښوونځي او یا مدرسه کې یې لیک او لوست کړی وي، زده کړې یې د لیسانس تر کچې پورې رسولې وي او د بریا قانوني اسناد ولري.

۴. د افغانستان په سیاسي حالاتو او اوضاع پوه وي.

۵. د افغانستان پهٔ اساسي قانون، د انتخاباتو پهٔ قانون او نورو اړونده قوانینو پوه وي.

۶. د سیمې د هیوادونو، ګاونډیو هیوادونو او نړیوالو هیوادونو پهٔ سیاسي لوبو پوه وي.

لاندیني کسان د ولسمشریزې ټاکنیزې جرګې غړیتوب نشي ترلاسه کولای:

۱. پهٔ رشوت او فساد کې ککړ، نیول شوي او تورن کسان.

۲. پهٔ غلا، قاچاق او نیشه یي توکو کې ککړ، نیول شوي او تورن کسان.

۳. د پردیو جایدادونو او دولتي ځمکو غاصبین.

۴. هغه څوک چې قتل یې کړی وي او یا پرې د قتل تور وي.

۵. پهٔ پردیو هیوادونو پورې تړلي کسان.

کهٔ چېرې د پورتنیو ځانګړنو او وړتیاوو پرخلاف کوم کس ولسمشریزې ټاکنیزې جرګې ته لار پیدا کړي او دا ثابته شي چې نوموړي کس غلط معلومات ورکړي سزا به ورکړل شي. کهٔ چیرې دا ثابته شي چې معلومات اخستونکی پهٔ دې پوهیده چې معلومات غلط وو او نوموړي جوړجاړی کړی، سزا به ورکړل شي.

## د ولسمشریزې ټاکنیزې جرګې د استازو ټاکل

د ولسوالیو د شمیرې پر اساس، د ولسمشریزې ټاکنیزې جرګې لپاره استازي د پټو او نیغو سیده رای اخستلو او رای ورکولو له لارې ټاکل کیږي. د رایو د ګټلو لپاره ساده اکثریت داعتبار وړ دی. اټکل به وکړو چې په یو ولایت کې پنځۀ والسوالۍ دي او هره ولسوالي باید خپل استازي د ولسمشریزې ټاکنیزې جرګې لپاره وټاکي. د لومړۍ ولسوالۍ د نفوسو شمیره شل زره کسان (۲۰۰۰۰)، د دویمې ولسوالۍ د نفوسو شمیره دیرش زره (۳۰۰۰۰) کسان، د دریمې ولسوالۍ د نفوسو شمیره پنځوس زره کسان(۵۰۰۰۰)، د څلورمې ولسوالۍ د نفوسو شمیره لس زره کسان(۱۰۰۰۰) او د پنځمې ولسوالۍ د نفوسو شمیره څلویښت زره(۴۰۰۰۰) کسان دي. کۀ چیرې اصول داسې جوړ شي چې د لس زرو(۱۰۰۰۰) کسانو پۀ استازیتوب یو استازی وټاکل شي نو لومړۍ ولسوالي به دوه(۲) استازي وټاکي، دویمه ولسوالي به درې(۳) استازي وټاکي، دریمه ولسوالي به پنځۀ(۵) استازي وټاکي، څلورمه ولسوالي به یو(۱) استازي وټاکي او پنځمه ولسوالي به څلور(۴) استازي وټاکي. چیرته چې ښارونه دي او پۀ ولسوالیو پورې تړلې نۀ دي، ټاکنې به یې پۀ ناحیو او حوزو کې پۀ همدې ډول پرمخ ځي.

اوس به دریمه ولسوالي رااخلو چې شمیر یې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) د رایو وړ کسان دي او دوی باید پنځه استازي وټاکي. پۀ دې سیمه کې پنځۀ ګوندونه سیاسي فعالیت لري او هر ګوند غواړي خپل استازي وټاکي. همدارازدرې کسان پۀ ځانګړې

خپلواکه توګه غواړي ځانونه دې جرګې ته نوماند کړي. هر ګوند کولاي شي تر پنځو کسانو پورې په دې ولسوالۍ کې دې جرګې ته د استازيتوب لپاره نوماند کړي. درې ځانګړي کسان هم خپل نومونه دې جرګې ته د استازيتوب لپاره د نوماندو په شميره کې ليکي. رای ورکوونکي د ګوندونو او ځانګړو کسانو لۀ لستونو څخه يوائې يو کس ته رای ورکولای شي.

داسې اټکل به وکړو چې په دې ولسوالۍ کې ټولې پنځوس زره (۵۰۰۰۰) روغې او قانوني رايې اچول شوي دي او والسوالي پنځۀ (۵) استازي ټاکنيزې جرګې ته ليږي. د ټاکنو لۀ شميرنې څخه وروسته داسې څرګنديږي چې الف ګوند شل زره (۲۰۰۰۰) رايې وړي، ب ګوند لس زره(۱۰۰۰۰) رايې وړي، پ ګوند پنځۀ زره(۵۰۰۰) رايې وړي، ت ګوند يوزر اته سوه(۱۸۰۰) رايې وړي، ث ګوند يوزر دوه سوه (۱۲۰۰) رايې وړي، احمد زر(۱۰۰۰) رايې وړي، ليلا لس زره پنځۀ سوه(۱۰۵۰۰) رايې وړي او جاويد پنځۀ سوه(۵۰۰) رايې وړي دي. لۀ دې څخه وروسته استازي د لاندې جدول پراساس ټاګل کيږي.

يو نوماند ته رای ور کولای شئ . د نوماند د نوم ترمخه نخښه وکړئ . ستاسې رای د نوماند او اړوند ګوند لپاره شمېرل کيږي .

| الف ګوند | | ب ګوند | | پ ګوند | | ت ګوند | | ث ګوند | | ځانګړی خپلواک | | ځانګړی خپلواک | | ځانګړی خپلواک | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| عبدالله | ۷۴۰۰ | ايمل | ۶۷۰۰ | ولي محمد | ۱۱۰۰ | خانګل | ۴۰۰ | بصير | ۱۰۰ | احمد | ۱۰۰۰ | ليلا | ۱۰۵۰۰ | جواد | ۵۰۰ |
| رحمن | ۱۶۰۰ | حفيظ | ۸۰۰۰ | آصف | ۳۹۰۰ | قمبر | ۷۰۰ | ميرويس | ۵۵۰ | | | | | | |
| خالقداد | ۱۷۰۰ | شفيع | ۸۰۰ | زهره | ۱۱۰۰ | مير آغا | ۱۶۰۰ | احمدشاه | ۳۵۰ | | | | | | |
| ياسين | ۴۰۰ | سيد محمد | ۵۰۰ | نورمحمد | ۶۰۰ | نجيبه | ۲۵۰ | مراد | ۵۰ | | | | | | |
| راحله | ۸۰۰ | ګل احمد | ۷۰۰ | خان محمد | ۲۰۰ | غفور | ۱۵۰ | نفيسه | ۱۵۰ | | | | | | |
| ټولې رايې | ۲۰۰۰۰ | ټولې رايې | ۱۰۰۰۰ | ټولې رايې | ۵۰۰۰ | ټولې رايې | ۱۸۰۰ | ټولې رايې | ۱۲۰۰ | ټولې رايې | ۱۰۰۰ | ټولې رايې | ۱۰۵۰۰ | ټولې رايې | ۵۰۰ |

د شمیرنې وروسته بریالي کسان پۀ لاندې توګه دي:

| ګوند یا نوم | ټاکل شوي کسان | | استازي |
|---|---|---|---|
| الف ګوند | عبدالله | رحمن | ۲ |
| ب ګوند | ایمل | ــ | ۱ |
| پ ګوند | آصف | ــ | ۱ |
| ت ګوند | ــ | ــ | ۰ |
| ث ګوند | ــ | ــ | ۰ |
| ځانګړی خپلواک | ــ | ــ | ۰ |
| ځانګړی خپلواک | لیلا | ــ | ۱ |
| ځانګړی خپلواک | ــ | ــ | ۰ |

www.sabawoon.com
Sabawoon Online
د صباوون خپرونه

## د ولسمشریزې ټاکنیزې جرګې موخه

د دې جرګې موخه دا ده چې د ولسمشرۍ لپاره د نوماندو د لست څخه تر څلورو کسانو پورې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره غوره کړي او ملت ته یې وروپیژني ترڅو د ملت رایې ترلاسه کړای شي. کهٔ د نوماندو شمیره لږه وي، یانې د ولسمشرۍ لپاره یو، دوه، درې یا څلور کسان نوماند وي، جرګه به د دغو کسانو پهٔ اړه پریکړه کوي. جرګه کولای شي څلور کسان یا درې کسان ملت ته وروپیژني، مګر لږ تر لږه باید دوه کسان ملت ته د ولسمشر د نوماندۍ لپاره وروپیژني. ولسمشریزه ټاکنیزه جرګه مسوولیت لري چې د ټولو هغو کسانو اسناد او کړنې وڅیړي چې ځانونه یې ولسمشرۍ او د ولسمشر مرستیالۍ ته نوماند کړي دي. ولسمشریزه ټاکنیزه جرګه د نوماندو کسانو سیاسي تګلار، د افغانستان لپاره د دوی سیاسي، اقتصادي، تعلیمي، دفاعي او ولسي کړنلارې څیړي او د دوی د بهرني سیاست پالیسي او نور اړونده اسناد تر غور لاندې نیسي. جرګه چې څومره د ولسمشر پهٔ هکله معلومات راټولوي او پورتني قوانین پرې پلي کوي، هماغومره به د ولسمشر د مرستیال پهٔ هکله هم معلومات راټولوي، څیړنې به کوي او د ولسمشرۍ لپاره د کاندید شرایط به پرې پلې کوي. کله چې دوی خپله دنده سرته ورسوله او د ولسمشراو ولسمشرمرستیال لپاره یې نوماند کسان ملت ته وروپیژندل، د دوی دنده پای ته رسیږي.

دوی د دې دندې لهٔ پای ته رسیدو څخه وروسته د کوم مالي امتیاز حق او انتظار نشي لرلی، پرته لهٔ هغه لګښت څخه چې کابل

ته پۀ سفر، کابل کې د اوسيدو پۀ محال، او د خپلو رسمي او شخصي دندو د تم، ځنډ او نۀ سرته رسولو لۀ امله رامينځته کيږي. دوي يو اځې خپل اسلامي او ملي رسالت ترسره کوي او د همدې ويار خاوندان به وي.

د ولسمشريزې ټاکنيزې جرگې د کار تر پای ته رسيدو وروسته تر ټولټاکنو پورې د ولسمشريزې ټاکنيزې جرگې غړي حق نلري چې د ولسمشرۍ د هيڅ نوماند لپاره سياسي هلې ځلې وکړي او يا د يو نوماند لپاره تبليغ او فعاليت وکړي. د سرغړونې پۀ وخت کې به ورته اړونده سزا ورکړل شي. د ولسمشريزې ټاکنيزې جرگې د غړو دويمه دنده د ولسي جرگې د ټاکنو پۀ وخت کې پۀ اړونده ولسواليو، ناحيو او حوزو کې د ټاکنو د جرگه گۍ مشري کول دي.

دلته هم دوی د دندې تر پای ته رسيدو وروسته د کوم مالي امتياز حق او انتظار نشي لرلای، پرته لۀ هغه لگښت څخه چې د ولسواليو، ناحيو او حوزو مرکز ته پۀ سفر، د ولسواليو، ناحيو او حوزو مرکز کې د اوسيدو پر مهال، او د خپلو رسمي او شخصي دندو د تم، ځنډ او نۀ سرته رسولو لۀ امله رامينځته کيږي.

ولسمشريزه ټاکنيزه جرگه به ولسمشرۍ ته نوماند او د ولسمشرۍ مرستيال نوماند کسان پۀ لاندنيو ځانگړتياوو او محدوديتونو کې ملت ته ورپيژني او ملت به يې د اوو(۷) کلونو لپاره ټاکي:

۱. افغان، مسلمان او د ښه نوم خاوند وي.

۲. بهرنی تابعيت ونلري، د ناافغان مور او پلار څخه نهٔ وي زيږيدلی او بهرنۍ ښځه ونلري.

۳. عمر يې پنځهٔ ديرش کاله او يا ډير وي.

۴. پهٔ ښوونځي او يا مدرسه کې يې ليک او لوست کړی وي، زده کړې يې د ماسترۍ تر کچې پورې رسولې وي او د بريا قانوني اسناد ولري.

۵. د افغانستان پهٔ سياسي حالاتو او اوضاع پوه وي.

۶. د افغانستان پهٔ اساسي قانون، د ټاکنو پهٔ قانون او نورو اړونده قوانينو پوه وي.

۷. د سيمې د هيوادونو، گاونډيو هيوادونو او نړيوالو هيوادونو پهٔ سياسي لوبو پوه وي.

لاندني کسان ولسمشر او د ولسمشر مرستيال ته نشي نوماند کيداى:

۱. پهٔ رشوت او فساد کې ککړ، نيول شوي او تورن کسان.

۲. پهٔ غلا، قاچاق او نيشه يي توکو کې ککړ، نيول شوي او تورن کسان.

۳. د پرديو جايدادونو او دولتي ځمکو غاصبين.

۴. هغه څوک چې قتل يې کړی وي او يا پرې د قتل تور وي.

**۵.** پهٔ پردیو هیوادونو پورې تړلي کسان.

کهٔ چېرې د پورتنیو ځانګړتیاوو او وړتیاوو پر خلاف کوم کس د ولسمشر او ولسمشر مرستیال د نوماند پهٔ توګه ټاکنو ته لار پیدا کړي او دا جوته شي چې نوموړي کس غلط معلومات ورکړي سزا به ورکړل شي. کهٔ چیرې دا ثابته شي چې معلومات اخستونکی پهٔ دې پوهیده چې معلومات غلط وو او نوموړي جوړجاړی کړی، سزا به ورکړل شي.

وروسته لهٔ دې چې ولسمشریزې ټاکنیزې جرګې د ولسمشرۍ لپاره نوماند کسان ملت ته وروپیژندل، نوماند کسان پهٔ خپلو سیاسو فعالیتونو پیل کوي، او تر نویو(۹۰) ورځو پورې وخت لري چې ملت ته خپل پروګرامونه وړاندې او تشریح کړي او لهٔ روا او معقولو لارو څخه د ملت ملاتړ ترلاسه کړي. پهٔ یونویومه (۹۱) ورځ به ټاکنې کیږي. کهٔ لهٔ نوماندو کسانو څخه پهٔ لومړي پړاو ټاکنو کې کوم نوماند پنځوس سلنه جمع یو (۵۰٪+۱) رای ترلاسه کړي نو نوموړی ګټونکی شمیرل کیږي. کهٔ داسې پیښه شوه چې د هیڅ نوماند رایې د پنځوس سلنې جمع یو (۵۰٪+۱) رایو څخه ډیرې نهٔ شوي، نو هغه دوه کسان چې تر ټولو ډیرې رایې یې ترلاسه کړي، دویم پړاو ټاکنو ته ځي.

پهٔ دویم پړاو ټاکنو کې چې هرچا ډیرې رایې ترلاسه کړې، ګټونکی شمیرل کیږي. دویم پړاو ټاکنې باید د لومړي پړاو ټاکنو لهٔ نیټې څخه دیرش ورځې وروسته ترسره شي. یو کس حق لري یوازې دوه دورې ولسمشري وکړي.

## د قانون په وړاندې د ولسمشر مسوولیت

د قانون په وړاندې ولسمشر او د ولسمشر مرستیال د یو عام افغان حیثیت لري او کوم ځانګړی امتیاز نه لري.

## د ولسمشر ګوښه کېدل او ګوښه کول

۱. که د کومې ناروغتیا او یا بلې وجې له امله ولسمشر له خپلې دندې څخه استعفا وکړي، د ولسمشر مرستیال د ټاکل شویو واکونو په چوکاټ کې دننه د ولسمشر په توګه ټاکل کېږي، په درېو میاشتو کې دننه باید ټاکنې سرته ورسېږي او نوي ولسمشر ته حکومت وسپارل شي. په دې درې میاشتنۍ موده کې ولسمشر د قانون د تعدیل، په اړونده وزارتونو، سترې محکمې، لویه څارنوالۍ، ملي امنیت او علماوو شورا کې د مشرانو، مسوولینو او چارواکو د ټاکلو او ګوښه کولو صلاحیت نه لري، د ملي او مهمو مسایلو په هکله ټولپوښتنه نشي کولای.

۲. که د کومې ناروغتیا او یا بلې وجې له امله ولسمشر او د ولسمشر مرستیال دواړه له خپلو دندو څخه استعفا وکړي، د ولسي جرګې مشر د ولسمشر دنده پرمخ بیایي. په درېو میاشتو کې دننه باید ټاکنې سرته ورسېږي او نوي ولسمشر ته حکومت وسپارل شي. په دې درې میاشتنۍ موده کې ولسمشر د قانون د تعدیل، په اړونده وزارتونو، سترې محکمې، لویه څارنوالۍ، ملي امنیت او علماوو شورا کې د مشرانو، مسوولینو او

چاروا کو د ټاکلو او ګوښه کولو صلاحيت نهٔ لري، د ملي او مهمو مسايلو پهٔ هکله ټولپوښتنه نشي کولی.

۳. کهٔ محکمه پهٔ ولسمشر کوم جرم ثابت کړي، محکمه به اړونده سزا ورکوي. د محکمې لهٔ فيصلې څخه وروسته ولسمشر لهٔ دندې څخه ګوښه کيږي. د ولسمشر لهٔ ګوښه کيدو وروسته د ولسمشر مرستيال د ولسمشر پهٔ توګه ټاکل کيږي. پهٔ دريو مياشتو کې دننه بايد ټاکنې سرته ورسيږي او نوي ولسمشر ته حکومت وسپارل شي. پهٔ دې درې مياشتنۍ موده کې ولسمشر د قانون د تعديل، پهٔ اړونده وزارتونو، سترې محکمې، لويه څارنوالۍ، ملي امنيت او علماوو شورا کې د مشرانو، مسوولينو او چاروا کو د ټاکلو او ګوښه کولو صلاحيت نهٔ لري، د ملي او مهمو مسايلو پهٔ هکله ټولپوښتنه نشي کولی.

۴. کهٔ محکمه د ولسمشر پهٔ مرستيال کوم جرم ثابت کړي، محکمه به اړونده سزا ورکوي. د محکمې لهٔ فيصلې څخه وروسته د ولسمشر مرستيال لهٔ دندې څخه ګوښه کيږي. د ولسمشر مرستيال د ګوښه کيدو څخه وروسته ولسمشر ځانته نوی مرستيال ټاکي. د نوي مرستيال د ټاکلو پهٔ وخت بايد نوموړي د ولسمشر مرستيال لپاره د کانديدو ټول شرايط پوره کړي وي.

۵. کهٔ چيرې ولسمشر خپلې چارې سمې سرته ونه رسوي، ولسي جرګه د دې واک لري چې د خپلو ټولو استازو پهٔ پنځهٔ اويا سلنې (۷۵٪) رايو سره ولسمشر لهٔ واک څخه ګوښه کړي. د ولسمشر لهٔ

ګوښه کېدو سره دولسمشر مرستیال هم له کارڅخه ګوښه کېږي. د ولسمشر او مرستیال له ګوښه کېدو وروسته د ولسي جرګې مشر د ولسمشر دنده پرمخ بیایي، په دریو میاشتو کې دننه باید تاکنې سرته ورسیږي او نوي ولسمشر ته حکومت وسپارل شي. په دې درې میاشتنۍ موده کې ولسمشر د قانون د تعدیل، په اړونده وزارتونو، سترې محکمې، لویه څارنوالۍ، ملي امنیت او علماوو شورا کې د مشرانو، مسوولینو او چارواکو د ټاکلو او ګوښه کولو صلاحیت نلري، د ملي او مهمو مسایلو په هکله ټولپوښتنه نشي کولای.

۲. که چیرې داسې حالت راشي چې ولسمشر، د ولسمشرمرستیال او د ولسي جرګې مشر په یو وخت کې ناروغه شي او د کار وړتیا ونلري او یا هم په یو وخت مړه شي نو لومړی وزیر به د ولسمشرۍ او لومړي وزارت چارې یوځای پرمخ بیایي. په دریو میاشتو کې دننه باید ټاکنې سرته ورسیږي او نوي ولسمشر ته حکومت وسپارل شي. په دې درې میاشتنۍ موده کې ولسمشر د قانون د تعدیل، په اړونده وزارتونو، سترې محکمې، لویه څارنوالۍ، ملي امنیت او علماوو شورا کې د مشرانو، مسوولینو او چارواکو د ټاکلو او ګوښه کولو صلاحیت نلري، د ملي او مهمو مسایلو په هکله ټولپوښتنه نشي کولای. لومړی وزیر کولای شي چې ولسمشرۍ ته نوماند شي، مګر نوماندیدل یې باید د دندې څخه او نیمګړتیا رامینځته نکړي.

۷. ولس د دې واک لري چې د ټولپوښتنې له لارې د ټول ولس د پنځه اويا سلنو (۷۵٪) رايوو اخستلو څخه وروسته ولسمشر او د هغه مرستيال د واک څخه گوښه کړي. د ولسمشر او ولسمشر د مرستيال د گوښه کيدو څخه وروسته د ولسي جرگې مشر د ولسمشر دنده پرمخ بيايي. په دريو مياشتو کې دننه بايد ټاکنې سرته ورسيږي او نوي ولسمشر ته حکومت وسپارل شي. په دې درې مياشتنۍ موده کې ولسمشر د قانون د تعديل، په اړونده وزارتونو، سترې محکمې، لويه څارنوالۍ، ملي امنيت او علماوو شورا کې د مشرانو، مسوولينو او چارواکو د ټاکلو او گوښه کولو صلاحيت نلري، د ملي او مهمو مسايلو په هکله ټولپوښتنه نشي کولای.

### له دندې وروسته امتيازات

وروسته له دې چې ولسمشر خپله دنده پای ته ورسوي، د پخواني ولسمشر خطاب ورته کيږي او د يو عادي افغان په توگه خپل ژوند د هيواد په هرځای کې چې وغواړي او وړتيا يې ولري، سرته رسوي. د دندې له پای ته رسيدو څخه وروسته د ژوند ترپای پورې، مقررشوی تقاعد ورکول کيږي او د ورځنيو اړتياوو لپاره يو موټر، يو چلونکي او يو ساتونکی ورکول کيږي. د چلونکي او ساتونکي معاش د دولت له بودجې څخه ورکول کيږي. پخوانی ولسمشر نور د هيڅراز امتياز مستحق نه دی او د قانون په دائره کې خپل ورځنی ژوند پرمخ بيايي. که چيرې پخوانی ولسمشر

فیصله وکړي چې کار، تجارت او یا نور داسې فعالیت وکړي چې د هغې په مقابل کې نوموړی معاش یا اجوره لاس ته راوړي، په تقاعد او نورو دولتي امتیازاتو یې کومه اغیره نهٔ لري. کهٔ چیرې ولسمشر لهٔ خپلې میرمنې څخه مخکې مړ شي، میرمنې ته یې د هغې د ژوند تر پایه پورې ولسمشر ته د مقرر شوي تقاعد او یا سلنه (۷۰٪) ورکول کیږي. موټر او چلونکې ورسره پاتې کیږي، مګر ساتونکی ترې اخستل کیږي. د ولسمر د مرستیال لپاره پورتني حقوق او شرایط پلې دي.

## ولسي جرګې ته د ولسمشر د کابینې وړپیژندنه

د ولسمشر لخوا ولسي جرګې ته د منلو لپاره د ملي دفاع وزیر، د بهرنیو چارو وزیر، قاضي القضات، د سترې محکمې د قاضیانو، د ملي امنیت د ریس او لوي څارنوال وړپیژندل کیږي.

د ملي دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو، ملي امنیت ریس او لوي څارنوال پهٔ هکله د فیصلې پهٔ وخت کې باید د ولسي جرګې ټول استازي موجود وي او خپله پریکړه پهٔ پنځوس سلنه جمع یو (۵۰٪+۱) رایو پهٔ اکثریت ترسره کړي.

د ملي دفاع وزیر، د بهرنیو چارو وزیر، د ملي امنیت ریس او لوی څارنوال د اجرائیه څواک برخه ده چې د ولسمشر تر واک لاندې کار کوي. ولسمشر دوی ولسي جرګې ته وړپیژني. ولسي جرګه یې د منلو او نهٔ منلو حق لري. د نهٔ منلو پهٔ صورت کې ولسمشر باید

نوي کسان ولسي جرګې ته د منلو لپاره وروپيژني. د منلو په صورت کې د ملي دفاع وزير، د بهرنيو چارو وزير، د ملي امنيت ريس او لوی څارنوال د اوه (۷) کلونو لپاره په دنده ګومارل کيږي.

دقاضي القضات او ستري محکمې دقاضيانو په هکله د فيصلې په وخت کې بايد د ولسي جرګې ټول استازي موجود وي او خپله پريکړه د پنځه شپيته سلنه (۶۵٪) رايو په اکثريت ترسره کړي. ولسمشر دوی ولسي جرګې ته ورپيژني. ولسي جرګه يې د منلو او نه منلو حق لري. د نه منلو په صورت کې ولسمشر بايد نوي کسان ولسي جرګې ته د منلو لپاره وروپيژني. د منلو په صورت کې قاضي القضات او د ستري محکمې قاضيان د څوارلسو (۱۴) کلونو لپاره په دنده ګومارل کيږي.

ستردرستيز د ملي دفاع وزير په مشوره د ولسمشر لخوا د اوو (۷) کلونو لپاره په دنده ګومارل کيږي.

**دولايتي څارنواليو ريسان**

د لوی څارنوال مرستيال او د ولايتي څارنواليو ريسان د ولسمشر لخوا د لوی څارنوال په مشوره د اوو (۷) کلونو لپاره په دنده ګومارل کيږي. د لوی څارنوال، د لوی څارنوال د مرستيال او ولايتي څارنواليو د ريسانو د کار دوره د ولسمشر د کار له دورې سره يو ځای پای ته رسيږي. بيا ټاکل شوی ولسمشر او يا نوی ولسمشر کولای شي يا دوی بيرته په خپلو دندو وګوماري او يا نوي کسان د مقرراتو پر اساس وټاکي.

### د ولايتي محکمو ريسان

د ولايتي محکمو ريسان د ولسمشر لخوا د سترې محکمې پهٔ مشوره د اوو (۷) کلونو لپاره پهٔ دنده گومارل کيږي. د ولايتي محکمو د ريسانو د کار دوره د ولسمشر د کار لهٔ دورې سره يوځای پای ته رسيږي. بيا ټاکل شوي ولسمشر او يا نوی ولسمشر کولای شي يا دوی بيرته پهٔ خپلو دندو وگوماري او يا نوي کسان د مقرارتو پراساس وټاکي.

## ولايتونه او واليان

د ولايتونو چارې پهٔ دوو برخو ويشل کيږي:

### ۱. د دفاع او ملي امنيت چارې

د ولايتي پوځونو سترقوماندان د ولسمشر لخوا د اوو (۷) کلونو لپاره ټاکل کيږي او د ملي دفاع وزارت پهٔ چوکاټ کې د هيواد دفاعي چارې پرمخ بيايي. نورغړي يې د ملي دفاع وزارت د خپلې تگلارې پهٔ رڼا کې ټاکي. د ولايتي ملي امنيت د چارو سترمشر د ولسمشر لخوا د اوو (۷) کلونو لپاره ټاکل کيږي او د ملي امنيت پهٔ چوکاټ کې د هيواد ملي امنيتي چارې پرمخ بيايي. نورغړي يې د ملي امنيت رياست د خپلې تگلارې پهٔ رڼا کې ټاکي.

د ولايتي پوځونو سترقوماندان او ولايتي ملي امنيت د چارو سترمشر د کار دوره د ولسمشر د کار لهٔ دورې سره يوځای پای ته رسيږي. بيا ټاکل شوی ولسمشر او يا نوی ولسمشر کولای شي يا

دوی بیرته پهٔ خپلو دندو وګوماري او یا نوي کسان د مقرارتو پراساس وټاکي.

### ۲. سیاسي او اداري چارې

والي د حکومت مامور دی او د کورنیو چارو وزیر پهٔ وړاندیز او د لومړي وزیر پهٔ منلو د لومړي وزیر لخوا پهٔ دنده ګومارل کیږي. د دولت مشر(ولسمشر) د هغه پهٔ چارو کې مداخله نهٔ کوي، کهٔ شکایت ترې کیږي او د کورنیو چارو وزیر او لومړي وزیر پرې غور نهٔ وي کړی، ولسمشر د مداخلې حق او صلاحیت لري. والي پهٔ ولایت کې د حکومتي ټولو څانګو د ادارې، ساتنې، پالنې، پرمختیا او رغاونې مسوولیت لري. د لومړي وزیر او کورنیو چارو لهٔ وزیر څخه اړونده لارښوونې ترلاسه کوي او د خپل ولایت د پرمختګ، ښیګنې، رغاونې او نورو اړتیاوو لپاره لومړي وزیر او د کورنیو چارو وزیر ته اړونده وړاندیزونه کوي، د عملي کولو لپاره یې اړوند تدابیر نیسي او د لګښت لپاره یې لهٔ مالیې وزارت او اړونده وزارتونو څخه خپله بودجه ترلاسه کوي. والي مکلفیت لري چې د خپل ولایت د اړتیاوو او لګښتونو کلنۍ بودجه لومړي وزیر ته د منلو لپاره وړاندې کړي.

والي کولای شي د ولایت د عایداتو څلویښت سلنه(۴۰٪) د ولایت د پرمختګ، ښیګنې او رغاونې پهٔ چارو کې ولګوي. دا څلویښت سلنه عاید پهٔ دریو برخو ویشل کیږي. دوه برخې یې د

ولایت په کلنۍ بودجه کې داخلیږي. د څلویښت سلنې عاید دریمه برخه د ولایت په هغو نوو ښیګڼیزو او رغنیزو پروژو کې لګول کیږي چې په بودجه کې نه وي یادې شوي. که چیرې له دې رقم څخه د مالي کال په پای کې کوم رقم پاتې شي چې نه وي لګول شوي، هغه راتلونکي کال ته د ولایت د عایداتو په رقم کې داخلیږي.

## د علماوو شورا

ولسمشر د هیواد د منلو دیني عالمانو، قاضیانو، مفتیانو او پوهانو څخه د علماوو شورا جوړوي. د علماوو شورا غړي د ولسمشر لخوا په ګوته کیږي. د عدلیې وزارت،ستره محکمه، لویه څارنوالي، د پوهنې وزارت او د ملي امنیت ریاست د هغوی په هکله پلټنې کوي او ولسمشر ته یې وړاندې کوي.

ولسمشر له دې پلټنو، نورو هراړخیزه معلوماتو د راټولولو او هغوی سره له خبرو وروسته د علماوو د شورا غړي خوښوي او ولسي جرګې ته یې د منلو لپاره وړاندې کوي. ولسي جرګه یې د منلو او نه منلو واک لري. د نه منلو په صورت کې ولسمشر باید نوي غړي ولسي جرګې ته وروپیژني. د منلو په صورت کې د علماوو شورا د څوارلسو(۱۴) کلونو لپاره پر دنده ګومارل کیږي او د علماوو شورا د دولت رسمي برخه ګرځي. د علماوو شورا په هکله راپې د ولسي جرګې د ټول استازو په شتون کې په پنځه اویا سلنه(۷۵٪) رایو ترسره کیږي.

د علماوو شورا غړي پرته لهٔ کوم جرم او خیانت څخه لهٔ خپلې دندې څخه د هیڅ ولسمشر لخوا نشي گوښه کیدی او نهٔ ولسي جرگه پرته لهٔ کوم جرم او خیانت لهٔ هغوی څخه د اعتماد رای صلبولای شي. کهٔ چیرې د علماوو شورا کوم غړی د کوم جرم او خیانت پر اساس لهٔ دندې څخه گوښه کړای شي، یا مړ شي او یا هم استعفا وکړي او د هغه پر ځای د بل ټاکل اړین شي نو د وخت ولسمشر نوی کس ولسي جرگې ته د منلو لپاره وړاندې کوي.

ولسمشر او لومړی وزیر د علماوو لهٔ شورا څخه پهٔ اړونده مسایلو کې مشورې اخلي. د علماوو شورا مهمه دنده لهٔ شریعت سره سم د اساسي قانون او نورو قوانینو د اسلامي کیدلو او پلي کولو څارنه ده چې ځانگړتیاوې یې باید پهٔ ځانگړې تګلاره کې جوړې شي.

## ب: لومړی وزارت

د ولسي جرگې لهٔ ټاکنو څخه وروسته، ولسي جرگه پهٔ خپله لومړنۍ غونډه کې لهٔ خپلو غړو څخه یو کس د لومړي وزیر پهٔ توگه د څلورو کلونو لپاره ټاکي. معمول دا دی، هغه گوندونه، ډلې، ټولگي او ائتلافونه چې پهٔ ولسي جرگه کې تر ټولو ډیرې رایې لري لهٔ خپلو غړو څخه یو کس د لومړي وزیر پهٔ توگه ټاکي. گوندونه او ډلې د خپلو سیاسي او پارلماني هلو ځلو پهٔ دوران کې یو کس د احتمالي لومړي وزیر پهٔ توگه نوماندوي او ملت ته یې هم وړاندې کوي.

لومړی وزیر د ولسي جرګې د ټولو غړو په پنځوس سلنه جمع یو (۵۰٪ +۱) رایو په اکثریت ټاکل کیږي. کله چې ولسي جرګه لومړی وزیر وټاکي بیا یې ولسمشر ته یې ورپیژني. ولسمشر یې قبلوي او ملت ته یې ورپیژني. ولسمشر یې د نهٔ منلو واک نلري.

لومړی وزیر د خپل ګوند، ډلې، ټولګي، او ائتلاف د ملګرو په مشوره وزیران ټاکي. د وزیرانو نومونه ولسمشر ته وړاندې کیږي، ولسمشر د وزیرانو د منلو او نهٔ منلو واک لري. د ټولو وزیرانو او یا کوم وزیر د نهٔ منلو په صورت کې لومړی وزیر باید نوی کس (کسان) ولسمشر ته د منلو لپاره وروپیژني. د منلو په صورت کې ولسمشر وزیران ولسي جرګې ته ورپیژني، ولسي جرګه یې د منلو او نهٔ منلو پریکړه کوي. کهٔ ولسي جرګه ټول وزیران او یا کوم وزیر ونه مني، لومړی وزیر باید نوی کس(کسان) ولسمشر ته د منلو لپاره وروپیژني او ولسمشر یې لهٔ منلو وروسته ولسي جرګې ته د منلو لپاره وروپیژني. ولسي جرګه یې د منلو او نهٔ منلو پریکړه کوي. وزیران د ولسي جرګې د ټولو غړو په پنځوس سلنه جمع یو (۵۰٪+۱) رایو په اکثریت ټاکل کیږي. لومړی وزیر واک لري چې وزیران د ولسي جرګې لهٔ غړو څخه او یا لهٔ ولسي جرګې څخه بهر د مسلکي کسانو څخه وټاکي. کهٔ چیرې کوم وزیر د ولسي جرګې لهٔ غړو څخه وټاکل شي، ضروري نهٔ ده چې د ولسي جرګې څوکۍ خوشې کړي.

لومړی وزیر د حکومت د چارو او د لاندنیو وزارتونو د ټاکنو او کار د څارنې مسوول دی.

۱. د کورنیو چارو وزارت.

۲. د مالیې وزارت.

۳. د عدلیې وزارت.

۴. د پوهنې وزارت.

۵. د روغتیا وزارت.

۶. د کرنې او مالدارۍ وزارت.

۷. د اوبو، برښنا او انرژۍ وزارت.

۸. د پلان او تجارت وزارت.

۹. د ټولګټو وزارت.

۱۰. د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت.

۱۱. د معدنونو او صنایعو وزارت.

۱۲. د اطلاعاتو او کلتور وزارت.

۱۳. د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت.

۱۴. د کلیو او ښاري پراختیا وزارت.

۱۵. د حج او اوقافو وزارت.

۱۶. د چاپیریال ساتنې وزارت.

www.Sabawoon.com
Sabawoon Online

## څوک لومړي وزیر او وزیران کیدای شي؟

د ولسي جرګې د استازو د نوماندیدو د مقررې او اندازو ترڅنګ، لومړي وزیر او نورو وزیرانو باید په پوهنتون او یا مدرسه کې د ماسترۍ تر سطحې پورې زده کړې کړې وي او د بریا قانوني اسناد ولري.

## د لومړي وزیر او وزیرانو ګوښه کیدل او ګوښه کول

۱. کهٔ د کومې ناروغتیا او یا بلې وجې لهٔ امله لومړی وزیر لهٔ خپلې دندې څخه ګوښه شي، ولسي جرګه به پهٔ پنځوس سلنه جمع یو (۵۰٪+۱) رایو سره بل لومړی وزیر د پاتې مودې لپاره ټاکي.

۲. کهٔ محکمه پهٔ لومړی وزیر کوم جرم ثابت کړي، محکمه به اړونده سزا ورکوي. د محکمې لهٔ فیصلې څخه وروسته لومړی وزیر لهٔ دندې څخه ګوښه کیږي. ولسي جرګه د خپلو ټولو استازو پهٔ ګدون پهٔ پنځوس سلنه جمع یو (۵۰٪+۱) رایو سره بل لومړی وزیر د پاتې مودې لپاره پهٔ دنده ګوماري.

۴. کهٔ چیرې لومړی وزیر خپلې چارې سمې سرته ونه رسوي ولسي جرګه د دې واک لري چې د پنځوس سلنه جمع یو (۵۰٪+۱) رایو اخستلو څخه وروسته لومړی وزیر لهٔ واک څخه ګوښه کړي او پهٔ پنځوس سلنه جمع یو (۵۰+۱٪) رایو سره بل لومړی وزیر د پاتې مودې لپاره پهٔ دنده وګوماري.

۵. پورتنۍ تګلاره او ځانګړتیاوې د وزیرانو پهٔ اړه هم عملي دي.

www.sabawoon.com Online

## د قانون په وړاندې د لومړي وزير او وزيرانو مسوووليت

د قانون په وړاندې لومړی وزير او نور وزيران د يو عادي افغان حيثيت لري او کوم خاص امتياز نلري.

## له دندې وروسته امتيازات

وروسته له دې چې لومړی وزير خپله دنده پای ته ورسوي، د پخواني لومړي وزير خطاب ورته کيږي او د يو عادي افغان په توګه خپل ژوند د هيواد په هر ځای کې چې وغواړي او وړتيا يې ولري، سرته رسوي. د دندې له پای ته رسيدو څخه وروسته د ژوند ترپای پورې، مقرر شوی تقاعد ورکول کيږي او د ورځنيو اړتياوو لپاره يو موټر، يو چلونکي او يو ساتونکی ورکول کيږي. د چلونکي او ساتونکي معاش د دولت له بودجې څخه ورکول کيږي. پخوانی لومړی وزير د نور هيڅ راز امتياز مستحق نه دی او د قانون په محاوطه کې خپل ورځنی ژوند پرمخ بيايي.

کله چيرې پخوانی لومړی وزير فيصله وکړي چې کار، تجارت او يا نور داسې فعاليتونه وکړي چې د هغې په مقابل کې نوموړی معاش يا اجوره لاسته راوړي، په تقاعد او نورو دولتي امتيازاتو يې کوم تاثير نه لري. که چيرې پخوانی لومړی وزير له خپلې ميرمنې څخه مخکې مړ شي، ميرمنې ته يې د هغې د ژوند تر پای پورې لومړي وزير ته د مقرر شوي تقاعد اويا سلنه (۷۰٪) ورکول کيږي. موټر او چلونکې ورسره پاتې کيږي، مګر ساتونکی ترې اخستل کيږي. د وزيرانو لپاره يوازې د تقاعد امتيازات عملي دي. د موټر، چلونکي او ساتونکې امتياز نلري.

### ۲. مقننه ځواک

پهٔ مقننه ځواک کې ولسي جرګه او قانون جوړول شامل دي.

### الف: ولسي جرګه

د دولت بله برخه ولسي جرګه جوړوي. پهٔ دې وړاندیز شوي دولتي جوړښت کې مشرانو جرګې ته کومه اړتیا نشته. یواځې ولسي جرګه د ملت د هیلو او غوښتنو استازیتوب کولای شي. د ولسي جرګې د استازو ټاکنې هر څلور کاله وروسته کیږي. یو کس حق لري چې پهٔ ولسي جرګه کې څلور دوري د خلکو لخوا د استازي پهٔ توګه وټاکل شي.

ولسي جرګه لهٔ لومړیو ولسمشریزو ټاکنو څخه شپږ میاشتې وروسته پهٔ لاندنیو معیارونو ټاکل کیږي او لهٔ هغې وروسته هر څلور کاله پر همدې نیټه ټاکنې ترسره کیږي. د لومړي ځل لپاره د ولسمشر او ولسي جرګې د ټاکنو کره نیټه به د وخت او حالاتو پهٔ پام کې نیولو سره ټاکل کیږي. ولسمشر او ولسي جرګه به د ټاکنو څخه یوه میاشت وروسته واکونه ترلاسه کوي.

پهٔ سیاسي ژوند کې د ګډون او لهٔ ولس څخه د رایو اخستلو پهٔ خاطر باید سیاسي ګوندونه د افغانستان د اساسي قانون پهٔ رڼا کې د سیاسي فعالیت او سیاسي مبارزې اجازه ولري چې خپل غړي د ولسمشرۍ څوکۍ او د ولسي جرګې د څوکیو لپاره نوماند کړای شي. همداراز اشخاص باید پهٔ ځانګړې خپلواکه توګه هم د دې حق

ولري چې ځانونه د ولسمشرۍ څوکۍ او د ولسي جرګې د څوکیو لپاره نوماند کړي. ولسي جرګې ته نوماند کسان باید لاندیني ځانګړتیاوې ولري:

۱. افغان او د ښه نوم خاوند وي.

۲. بهرنی تابعیت ونلري، لهٔ نا افغان مور او پلار څخه نهٔ وي زیږیدلی. نارینه باید بهرنۍ ښځه ونلري، او ښځه باید بهرنی میړه ونلري، ان کهٔ د افغانستان تابعیت یې ترلاسه کړی هم وي.

۳. عمر یې دیرش کاله او یا ډیر وي.

۴. پهٔ ښوونځي او یا مدرسه کې یې لیک او لوست کړی وي، زده کړې یې د لیسانس تر کچې پورې رسولې وي او د بریا قانوني اسناد ولري. پهٔ اسلامي زده کړه کې همومره معلومات ولري چې د اسلام لهٔ حکمونو او معتقداتو سره د سمو او پهٔ ټکر کې قوانینو ترمینځ توپیر وکړای شي.

۵. د افغانستان پهٔ سیاسي حالاتو او اوضاع پوه وي.

۶. د افغانستان پهٔ اساسي قانون، د ټاکنو پهٔ قانون او نورو اړونده قوانینو پوه وي.

۷. د سیمې هیوادونو، ګاونډیو هیوادونو او د نړیوالو هیوادونو پهٔ سیاسي لوبو پوه وي.

لاندیني کسان ولسي جرګې ته نشي نوماندیدای:

۱. پهٔ غلا، رشوت او فساد کې ککړ، نيول شوي او تورن کسان.

۲. پهٔ قاچاق او نيشه يي توکو ککړ، نيول شوي او تورن کسان.

۳. د پرديو جايدادونو او دولتي ځمکو غاصبين.

۴. هغه څوک چې قتل يې کړی وي او يا پرې د قتل تور وي.

۵. پهٔ پرديو هيوادونو پورې تړلي کسان.

کهٔ چېرې د پورتنيو ځانګړنو او وړتياوو پرخلاف کوم کس ولسي جرګې ته لار پيدا کړي او دا ثابته شي چې نوموړي کس غلط معلومات ورکړي سزا به ورکړل شي. کهٔ چيرې دا ثابته شي چې معلومات اخستونکي پهٔ دې پوهيده چې معلومات غلط وو او نوموړي جوړجاړی کړی، سزا به ورکړل شي.

## د ولسي جرګې د استازو ګوښه کېدل او ګوښه کول

۱. کهٔ د کومې ناروغتيا او يا بلې وجې لهٔ امله د ولسي جرګې استازی لهٔ خپلې دندې څخه استعفا وکړي، هغه کس چې د ولسي جرګې پهٔ ټاکنو کې يې پهٔ اړونده ولسوالۍ کې د پاتې شوو نوماندانو پهٔ ډله کې تر ټولو ډيرې رايې ترلاسه کړې وې، د هغه پر ځای د پاتې مودې لپاره ټاکل کيږي.

۲. کهٔ محکمه د ولسي جرګې پهٔ استازي کوم جرم ثابت کړي، محکمه به اړونده سزا ورکوي. د محکمې لهٔ فيصلې څخه وروسته د ولسي جرګې استازی لهٔ دندې څخه ګوښه کيږي. هغه

کس چې د ولسي جرګې په ټاکنو کې یې په اړونده ولسوالۍ کې د پاتې شوو نوماندانو په ډله کې تر ټولو ډیرې رایې ترلاسه کړې وې، د هغه پر ځای د پاتې مودې لپاره ټاکل کیږي.

۳. که چیرې د ولسي جرګې کوم استازی خپلې چارې سمې سرته ونه رسوي د اړوندې ولسوالۍ خلک د دې واک لري چې په اړونده ولسوالۍ کې د ټولپوښتنې له لارې څخه د ټولو رایو د اویا سلنو (۷۰٪) رایو اخستلو وروسته د ولسي جرګې نومړی استازی له استازیتوب څخه ګوښه کړي او پر ځای یې هغه کس چې د ولسي جرګې په ټاکنو کې یې په اړونده ولسوالۍ کې د پاتې شوو نوماندانو په ډله کې تر ټولو ډیرې رایې ترلاسه کړې وې، د پاتې مودې لپاره وټاکي.

## د قانون په وړاندې د ولسي جرګې د استازو مسوولیت

د قانون په وړاندې د ولسي جرګې استازي د یوه عادي افغان حیثیت لري او کوم ځانګړی امتیاز نلري.

## له دندې وروسته امتیازات

وروسته له دې چې د ولسي جرګې غړي خپله دنده پای ته ورسوي، د یوه عادي افغان په توګه خپل ژوند د هیواد په هرځای کې چې وغواړي او وړتیا یې ولري، سرته رسوي. د دندې له پای ته رسیدو څخه وروسته د ژوند ترپای پورې، مقرر شوی تقاعد

ورکول کيږي. د ولسي جرګې غړي د نور هيڅ راز امتياز مستحق نهٔ دي او د قانون پهٔ چوکاټ کې خپل ورځنی ژوند پرمخ بيايي. کهٔ چيرې د ولسي جرګې پخوانی غړی فيصله وکړي چې کار، تجارت او يا نور داسې فعاليتونه وکړي چې د هغې پهٔ مقابل کې نوموړی معاش يا اجوره لاس ته راوړي، پهٔ تقاعد يې کوم اغيز نلري. کهٔ چيرې د ولسي جرګې غړی د خپلې ميرمنې څخه مخکې مړ شي، ميرمنې ته يې د هغې د ژوند تر پايه پورې ولسي جرګې غړي ته د مقرر شوي تقاعد اويا سلنه (۷۰٪) ورکول کيږي.

www.Sabawoon.com Online
د سباوون خپرونه

## د ولسي جرګې د ټاکنو کړنلار

د ولسي جرګې د استازو ټاکل به د متناسب استازیتوب د ټاکنیزې کړنلارې پهٔ رڼا کې کېږي. پهٔ دې ټاکنیزه کړنلار کې ګوندونه او ځانګړي کسان کولای شي د ولسي جرګې استازیتوب ته ځان یا بل څوک نوماند کړي. د متناسب استازیتوب ټاکنې د ولسوالیو پهٔ کچه کېږي. ګوندونه د خپلو نوماندانو لست او ځانګړي کسان خپل نومونه د ټاکنو جرګه ګۍ ته د نوماندۍ لپاره سپاري. د ټاکنو د جرګه ګۍ مشران هماغه د ولسمشریزې ټاکنیزې جرګې غړي دي. د جرګه ګۍ نور غړي یې د ولسمشر پهٔ وړاندیز د ولسي جرګې لخوا ټاکل کېږي او د ټاکنو د جرګه ګۍ د مشرتابه تر لاس لاندې کار کوي. کهٔ چیرې د ولسمشریزې ټاکنیزې جرګې کوم غړی ولسي جرګې ته نوماند وي، نوموړی د ولسي جرګې د ټاکنو پهٔ جرګه ګۍ کې دنده سرته نشي رسولای. ولسمشر د هغه پرځای بل وړ کس پهٔ دنده ګوماري.

دا لاندې بېلګه به د ټاکنو کړنلار څرګنده کړي.

اټکل به وکړو چې پهٔ یوه ولسوالۍ کې سل زره د رایو وړ کسان ژوند کوي او لهٔ دې ولسوالۍ څخه باید لس استازي ولسي جرګې ته وټاکل شي. پهٔ دې سیمه کې پنځهٔ ګوندونه سیاسي فعالیت لري او هر ګوند غواړي ولسي جرګې ته خپل استازي وټاکي. همدارنګه دري کسان پهٔ ځانګړې خپلواکه توګه غواړي ځانونه ولسي جرګې ته نوماند کړي. هر ګوند کولای شي چې لهٔ یو څخه تر لسو کسانو پورې پهٔ دې ولسوالۍ کې ولسي جرګې ته د استازیتوب لپاره

نوماند کړي. دري ځانګړي کسان هم خپل نومونه ولسي جرګې ته د استازيتوب لپاره د نوماندانو په شميره کې ليکي. راى ورکوونکي د ګوندونو او انفرادي اشخاصو د لستونو څخه يوا ځې يو کس ته راى ورکولاى شي.

| يو نوماند ته راى ورکولاى شئ. د نوماند د نوم ترمخه نخښه وکړئ. ستاسې راى د نوماند او اړوند ګوند لپاره شمېرل کيږي | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| الف ګوند | | ب ګوند | | پ ګوند | | ت ګوند | | ث ګوند | | ځانګړی خپلواک | | ځانګړی خپلواک | | ځانګړی خپلواک | |
| خوشحال | | اکرام | | ذبيح | | عثمان | | داود | | احمد | | ليلا | | جواد | |
| اباسين | | خيرمحمد | | اخترمحمد | | بصير | | کبير | | | | | | | |
| بشير | | نجيب | | قدير | | افتخار | | جاويد | | | | | | | |
| زمری | | اکبر | | شاپور | | سمندر | | رحيم | | | | | | | |
| وحيد | | صمد | | صفدرعلي | | وږمه | | لمحه | | | | | | | |
| راحله | | ګل احمد | | خان محمد | | غفور | | نفيسه | | | | | | | |
| ياسين | | سيدمحمد | | نورمحمد | | نجيبه | | مراد | | | | | | | |
| خالقداد | | شفيع | | زهره | | مير آغا | | احمدشاه | | | | | | | |
| رحمن | | حفيظ | | آصف | | قمبر | | ميرويس | | | | | | | |
| عبدالله | | ايمل | | ولي محمد | | خانګل | | بصير | | | | | | | |

داسې اټکل به وکړو چې په دې ولسوالۍ کې ټولې سل زره (۱۰۰۰۰۰) روغې او قانوني رايې اچول شوي دي او والسوالي لس استازي ولسي جرګې ته ليږي. که سل زره رايې په لسو استازو وويشل شي نو د لس زرو (۱۰۰۰۰) رايو په مقابل کې د استازيتوب څوکۍ لاسته راوړل کيدی شي. د ټاکنو د رايو له شمير څخه وروسته داسې څرګنديږي چې الف ګوند دوه ديرش زره (۳۲۰۰۰) رايې وړي، ب ګوند شپاړس زره (۱۶۰۰۰) رايې وړي، پ ګوند پنځلس زره (۱۵۰۰۰) رايې وړي، ت ګوند ديارلس زره (۱۳۰۰۰) رايې وړي، ث ګوند درې زره (۳۰۰۰) رايې وړي، احمد شپږ زره (۶۰۰۰) رايې وړي، ليلا يولس زره (۱۱۰۰۰) او جاويد څلورزره (۴۰۰۰) رايې وړي. د استازو د څوکيو ويش د لاندې جدول پراساس کيږي.

| گوندونه | الف گوند | ب گوند | پ گوند | ت گوند | ث گوند | احمد | لیلا | جواد |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د رایو شمیره | ۳۲۰۰۰ | ۱۶۰۰۰ | ۱۵۰۰۰ | ۱۳۰۰۰ | ۳۰۰۰ | ۶۰۰۰ | ۱۱۰۰۰ | ۴۰۰۰ |
| لومړي ویش کې د استازو شمیره | ۳ | ۱ | ۱ | ۱ | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ |
| پاتې رایې | ۲۰۰۰ | ۶۰۰۰ | ۵۰۰۰ | ۳۰۰۰ | ۳۰۰۰ | ۶۰۰۰ | ۱۰۰۰ | ۴۰۰۰ |
| دویم ویش کې د استازو شمیره | ۰ | ۱ | ۱ | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | ۰ |
| د استازو ټوله شمیره | ۳ | ۲ | ۲ | ۱ | ۰ | ۱ | ۱ | ۰ |
| د رایو تناسب او استازیتوب تناسب | ٪۳۲ او ٪۳۰ | ٪۱۶او ٪۲۰ | ٪۱۵او ٪۲۰ | ٪۱۳او ٪۱۰ | ٪۳او ٪۰ | ٪۶او ٪۱۰ | ٪۱۱او ٪۱۰ | ٪۴او ٪۰ |

په ولسي جرګه کې د ګوندونو د بيدريغه شميرې او د هيواد د سياسي استقامت په خاطر، هغه ګوندونه چې په ټول افغانستان کې اووه سلنه او ډيرې رايې ترلاسه کړي کولای شي ولسي جرګې ته استازي وليږي. که چيرې رايې د اووه سلنې څخه لږې وي د ولسي جرګې کومه څوکۍ ورته نه رسيږي، سره له دې که په يوه سيمه کې يې ډيرې رايې ترلاسه کړي هم وي. دا کار د سيمه ييز بيلتون او سيمه ييزې زورواکۍ مخه نيسي او ګوندونه له سيمه ييزو ګوندونو څخه په ملي ګوندونو بدليږي. ځانګړي خپلواک نوماند د ګوندونو د محدوديت تابع نه دی. هغوی په هره ولسوالۍ کې د رايو د ويش په تناسب ولسي جرګې ته ټاکل کيږي.

د ګوندونو له لست څخه به د هرګوند هغه نوماند ولسي جرګې ته د استازي په توګه ليږل کيږي چې ډيرې رايې يې ترلاسه کړي وي. د الف ګوند درې نوماندان چې د ګوند له نورو نوماندانو څخه يې ډيرې رايې ترلاسه کړي، د ب ګوند دوه نوماندان چې د ګوند له نورو نوماندانو څخه يې ډيرې رايې ترلاسه کړي، د پ ګوند دوه نوماندان چې د ګوند له نورو نوماندانو څخه يې ډيرې رايې ترلاسه کړي، د ت ګوند يو نوماند چې د ګوند له نورو نوماندانو څخه يې ډيرې رايې ترلاسه کړي او خپلواک نوماندان احمد او ليلا به ولسي جرګې ته د استازو په توګه ليږل کيږي.

## ب: قانون جوړول، پهٔ قانون کې بدلون راوستل او قانون لهٔ مینځه وړل

### ۱: قانون جوړول

قانون لهٔ دریو مرجعو څخه رامینځته کیږي.

ولسمشر کولای شي د قانون مسوده جوړه کړي او ولسي جرگې ته یې د غور او منلو لپاره ولیږي. ولسي جرگه لهٔ غور او څیړنې څخه وروسته کولای شي مسوده ومني، ونه مني او یا پکښې د بدلون وړاندیز وکړي. کهٔ ولسي جرگه مسوده ومني، د ولسي جرگې پهٔ دفتر کې ثبتیږي او مسوده ولسمشر ته د ولسي جرگې د فیصلې سره یوځای لیږل کیږي او د ولسمشر لهٔ لاسلیک څخه وروسته د قانون پهٔ توگه نافذ گڼل کیږي. کهٔ ولسي جرگه مسوده ونه مني، نهٔ منل شوې مسوده د ولسي جرگې د فیصلې پهٔ ملتیا بیرته ولسمشر ته لیږل کیږي، د ولسي جرگې پهٔ دفتر کې ثبتیږي او مسوده لهٔ مینځه ځي. کهٔ ولسي جرگه پهٔ رالیږل شوې مسوده کې کوم وړاندیز (ونه) ولري، ولسي جرگه خپل وړاندیز (ونه) د رالیږل شوې مسودې سره یوځای ولسمشر ته لیږي. کهٔ ولسمشر ټول وړاندیزونه ونه ومني، خپله د نهٔ منلو پریکړه ولسي جرگې ته لیږي، د ولسي جرگې پهٔ دفتر کې د نهٔ مل شوې مسودې پهٔ توگه ثبتیږي او مسوده لهٔ مینځه ځي.

کهٔ ولسمشر ځینې وړاندیزونه ومني او ځینې ونه مني، کولای شي نوې مسوده جوړه کړي، منلي وړاندیزونه پکې گډ کړي او ولسي جرگې ته یې ولیږي. ولسي جرگه پرې بیا غور کوي. دا ځل

ولسي جرگه د قانون نوې مسوده يا مني او يا يې نهٔ مني. نور وړانديزونه پکې نشي کولای.

کهٔ ولسي جرگه د قانون نوې مسوده ونه مني، نهٔ منل شوې مسوده د ولسي جرگې د فيصلې پهٔ ملتيا بيرته ولسمشر ته ليږل کيږي، د ولسي جرگې پهٔ دفتر کې د نهٔ منل شوې مسودې پهٔ توگه ثبتيږي او مسوده لهٔ مينځه ځي. کهٔ ولسي جرگه نوې مسوده ومني، د ولسي جرگې پهٔ دفتر کې ثبتيږي، ولسمشر ته د ولسي جرگې لهٔ فيصلې سره يوځای ليږل کيږي او د ولسمشر لهٔ لاسليک څخه وروسته د قانون پهٔ توگه نافذ گڼل کيږي.

کهٔ چيرې ولسمشر د ولسي جرگې ټول وړانديزونه ومني، ولسمشر د وړانديزونو پهٔ نظر کې نيولو سره نوې مسوده جوړوي او ولسي جرگې ته يې ليږي. ولسي جرگه نوې مسوده گوري او ډاډ ترلاسه کوي چې وړانديزونه پکښې ځای پرځای شوي دي، نو د قانون پهٔ توگه يې قبلوي. د ولسي جرگې پريکړه لهٔ منل شوې مسودې سره يوځای د ولسي جرگې پهٔ دفتر کې ثبتيږي. منل شوې مسوده د ولسي جرگې لهٔ فيصلې سره يوځای ولسمشر ته ليږل کيږي او د ولسمشر لهٔ لاسليک څخه وروسته د قانون پهٔ توگه نافذ گڼل کيږي. د قوانينو پهٔ هکله د فيصلې پهٔ وخت بايد د ولسي جرگې ټول استازي موجود وي او فيصلې پهٔ پنځهٔ شپيته سلنه (۶۵٪) اکثريت رايو وکړي.

کهٔ چيرې ولسمشر ولسي جرگې ته د قانون مسوده وليږي او ولسي جرگه پرې تر ديرشو (۳۰) ورځو پورې غور ونکړي، پر

یو دیرشمه(۳۱) ورځ د قانون مسوده د ولسي جرګې لهٔ فیصلې پرته د ولسمشر لهٔ لاسلیک څخه وروسته د قانون پهٔ توګه نافذ ګڼل کیږي.

۲. د ولسي جرګې یو غړی یا څو غړي کولای شي د قانون مسوده جوړه کړي او ولسي جرګې ته یې د غور او منلو لپاره وړاندې کړي. ولسي جرګه لهٔ غور او څیړنې څخه وروسته کولای شي د قانون مسوده ومني، ونه مني او یا د بدلون وړاندیز(ونه) پکښې وکړي. کهٔ ولسي جرګه مسوده ومني، د ولسي جرګې پهٔ دفتر کې ثبتیږي.

کهٔ ولسي جرګه مسوده ونه مني، نهٔ منل شوې مسوده د ولسي جرګې لهٔ فیصلې سره مل د ولسي جرګې پهٔ دفتر کې ثبتیږي او مسوده لهٔ مینځه ځي. کهٔ ولسي جرګه پهٔ مسوده کې کوم وړاندیز(ونه) ولري، ولسي جرګه خپل وړاندیز (ونه) لهٔ مسودې سره یوځای د مسودې وړاندیزکونکي (کوونکو) ته بیرته لیږي. کهٔ وړاندیزکوونکی (کوونکي) ټول وړاندیزونه ونه ومني، نهٔ منل شوې مسوده د ولسي جرګې لهٔ فیصلې سره مل د ولسي جرګې پهٔ دفتر کې د نهٔ منل شوې مسودې پهٔ توګه ثبتیږي او مسوده لهٔ مینځه ځي. کهٔ وړاندیزکوونکی (کوونکي) ځینې وړاندیزونه ومني او ځینې ونه مني، کولای شي د وړاندیزونو پهٔ نظر کې نیولو سره نوې مسوده جوړه کړي او ولسي جرګې ته یې ولیږي. ولسي جرګه پرې بیا غور کوي. دا ځل ولسي جرګه نوې مسوده یا مني او یا یې نهٔ مني، نوي وړاندیزونه پکښې نشي کولای. کهٔ نوې مسوده ونه منل شوه، د ولسي جرګې پهٔ دفتر کې د نهٔ مل شوې مسودې پهٔ توګه ثبتیږي او مسوده لهٔ مینځه ځي.

کهٔ چیرې د مسودې وړاندیزکوونکی (کوونکي) د ولسي جرگې ټول وړاندیزونه ومني، وړاندیزکوونکی (کوونکي) د وړاندیزونو پهٔ نظر کې نیولو سره نوې مسوده جوړوي او ولسي جرگې ته یې د منلو لپاره لیږي. ولسي جرگه د قانون نوې مسوده گوري او ډاډ ترلاسه کوي چې وړاندیزونه پکې ځای شوي. مسوده د ولسي جرگې پهٔ دفتر کې ثبتیږي.

پهٔ پورتنیو ټولو مواردو کې د ولسي جرگې د منلو پریکړه لهٔ منل شوې مسودې سره یوځای ولسمشر ته لیږل کیږي او د ولسمشر لهٔ منلو او لاسلیک څخه وروسته د قانون پهٔ توگه نافذ گڼل کیږي.

کهٔ ولسمشر د ولسي جرگې لخوا منل شوې د قانون مسوده ونه مني، خپل د نهٔ منلو ځواب د ولسي جرگې لخوا د منل شوې مسودې سره یوځای ولسي جرگې ته بیرته لیږي. کهٔ ولسي جرگه کوم عکس العمل ونکړي، د نهٔ منل شوې مسودې پهٔ نوم د ولسي جرگې پهٔ دفتر کې ثبتیږي او مسوده لهٔ مینځه ځي. کهٔ چیرې ولسي جرگه وغواړي چې د ولسمشر د نهٔ منلو پهٔ ځواب کې عکس العمل ښکاره کړي نو ولسي جرگه صلاحیت لري چې د ولسي جرگې د ټول غړو پهٔ شتون کې پهٔ پنځهٔ شپیته سلنه (۶۵٪) رایو د ولسمشر د نهٔ منلو ځواب بابیزه کړي. د ولسي جرگې لهٔ دې فیصلې څخه وروسته د قانون مسوده پرته د ولسمشر د منلو او لاسلیک څخه د قانون پهٔ توگه نافذ گڼل کیږي.

کهٔ ولسمشر د ولسي جرګې لخو منل شوې د قانون مسوده ونه مني او پهٔ هغې کې وړاندیز(ونه) ولري، خپل وړاندیزونه د ولسي جرګې لخوا لهٔ منل شوې مسودې سره یوځای ولسي جرګې ته لیږي. کهٔ ولسي جرګه ټول یا ځینې وړاندیزونه ومني، باید پهٔ مسوده کې یې ځای پر ځای کړي او د منلو پریکړه یې وکړي او بیرته یې ولسمشر ته د منلو او لاسلیک لپاره ولیږي. ولسمشر نوې منل شوې مسوده ګوري او ډاډ ترلاسه کوي چې وړاندیزونه یې پهٔ مسوده کې ځای پر ځای شوي. دا ځل ولسمشر مسوده یا مني او یا یې نهٔ مني، نوي وړاندیزونه پکې نشي کولای. د منلو پهٔ صورت کې مسوده د ولسمشر د لاسلیک څخه وروسته د قانون پهٔ توګه نافذ ګڼل کیږي.

کهٔ ولسي جرګه د ولسمشر وړاندیز (ونه) ونه مني نو واک لري چې د ولسي جرګې د ټولو غړو پهٔ شتون کې پهٔ پنځهٔ شپیته سلنه (۲۵٪) رایو د ولسمشر وړاندیزونه او د نهٔ منلو ځواب بابیزه کړي. د ولسي جرګې لهٔ دې فیصلې وروسته مسوده پرته د ولسمشر د منلو او لاسلیک څخه د قانون پهٔ توګه نافذ ګڼل کیږي.

کهٔ ولسي جرګه د قانون کومه مسوده قبوله کړي او ولسمشر ته یې د لاسلیک لپاره ولیږي، مګر ولسمشر یې پهٔ دیرشو (۳۰) ورځو کې د ننه لاسلیک نکړي، پر یودیرشمه (۳۱) ورځ د ولسمشر لهٔ لاسلیک څخه پرته مسوده د قانون پهٔ توګه نافذ ګڼل کیږي.

کهٔ وړاندیزکوونکی(کوونکي) ولسي جرګې ته د قانون مسوده وړاندیز کړي او ولسي جرګه پهٔ دې مسوده تر دیرشو (۳۰) ورځو

پوري غور ونکړي، پر یو دیرشمه (۳۱) ورځ مسوده د ولسي جرگې لهٔ فیصلې پرته د وړاندیزکوونکی(کوونکي) لخوا ولسمشر ته لیږل کیږي او د ولسمشر د منلو او لاسلیک څخه وروسته د قانون پهٔ توگه نافذ گڼل کیږي. کهٔ ولسمشر د قانون مسوده ونه مني، خپل د نهٔ منلو ځواب لهٔ مسودې سره یوځای وړاندیزکوونکي(کوونکو) ته لیږي. مسوده د ولسي جرگې پهٔ دفتر کې د نهٔ منل شوې مسودې پهٔ توگه ثبتیږي او مسوده لهٔ مینځه ځي.

۳. لومړی وزیر کولای شي د قانون مسوده جوړه کړي او ولسي جرگې ته یې د غور او منلو لپاره وړاندې کړي. څرنگه چې لومړی وزیر د ولسي جرگې یو غړی دی، د منلو یا نهٔ منلو پهٔ هکله ورسره د ولسي جرگې د غړي چلند کیږي.

## ۲: پهٔ قانون کې بدلون راوستل

پرته لهٔ اساسي قانون څخه ولسي جرگه حق لري د هیواد پهٔ نورو قوانینو کې بدلون راولي. هر بدلون باید د افغانستان د اساسي قانون پهٔ رڼا کې وي. پهٔ قانون کې د بدلون پهٔ وخت کې باید د ولسي جرگې ټول استازي حاضر وي او پهٔ پنځهٔ اویا سلنو (۷۵٪) رایو سره خپله پریکړه وکړي. پریکړه وروسته ولسمشر ته د لاسلیک لپاره لیږل کیږي. ولسمشر صلاحیت لري چې دا پریکړه ومني او یا یې ونه مني. د منلو پهٔ صورت کې قانون بدلیږي. د نهٔ منلو پهٔ صورت کې د ولسي جرگې پریکړه د ولسمشر د نهٔ منلو لهٔ

فیصلې سره یوځای ولسي جرګې ته لیږل کیږي. ولسي جرګه صلاحیت لري چې د خپلو ټولو غړو په شتون کې په پنځه شپیته سلنه (۶۵٪) رایو سره د ولسمشر د نه منلو پریکړه بابېزه اعلان کړي. په دې توګه د ولسي جرګې پریکړه پرته د ولسمشر له لاسلیک څخه قانوني بڼه غوره کوي.

### ۳: قانون له مینځه وړل

پرته له اساسي قانون څخه ولسي جرګه حق لري د هیواد نور قوانین له مینځه یوسي. هر له مینځه وړل باید د افغانستان د اساسي قانون په رڼا او بندیزونو کې وي. د قانون د له مینځه وړلو پر وخت کې باید د ولسي جرګې ټول استازي حاضر وي او په پنځه اویا سلنو (۷۵٪) رایو سره خپله پریکړه وکړي. پریکړه وروسته ولسمشر ته د لاسلیک لپاره لیږل کیږي. ولسمشر واک لري چې دا پریکړه ومني او یا یې ونه مني. د منلو په صورت کې قانون له مینځه ځي. د نه منلو په صورت کې د ولسي جرګې پریکړه د ولسمشر د نه منلو له فیصلې سره یوځای ولسي جرګې ته لیږل کیږي. ولسي جرګه صلاحیت لري چې د خپلو ټولو غړو په شتون کې په پنځه شپیته سلنه (۶۵٪) رایو سره د ولسمشر د نه منلو پریکړه بابېزه اعلان کړي. په دې توګه د ولسي جرګې پریکړه پرته د ولسمشر له لاسلیک څخه قانوني بڼه غوره کوي.

## ۳. قضاييه څواک

**الف: ستره محکمه**

د دولت دریم بنسټ قضاييه څواک دی په دې کې ستره محکمه د هیواد د قضايي نظام ترټولو لوړه مرجع ده. ستره محکمه یوه خپلواکه او ناپیلې قوا ده چې د ولسمشر، ولسي جرګې او حکومت له اغیزو څخه باید پاکه او په امن کې وي. د سترې محکمې قاضیان او قاضي القضات د ولسمشر په وړاندیز ولسي جرګې ته د رای اخستلو لپاره وړاندیز کیږي.

ولسي جرګه د منلو او یا نه منلو حق لري. د نه منلو په صورت کې ولسمشر باید نوی کس(کسان) ولسي جرګې ته د منلو لپاره وروپیژني. د منلو په صورت کې له رایې اخستلو څخه وروسته د سترې محکمې قاضیان او قاضي القضات د څوارلسو (۱۴) کلونو لپاره په دندو ګومارل کیږي. د قاضي القضات او سترې محکمې د قاضیانو په اړه رایې د ولسي جرګې د ټولو استازو په شتون کې په پنځه شپیته سلنه (٪۶۵) رایو ترسره کیږي.

قاضي القضات او د سترې محکمې قاضیان پرته له کوم جرم او خیانت له خپلې دندې څخه د هیڅ ولسمشر لخوا نشي ګوښه کیدی او نه ولسي جرګه پرته له کوم جرم او خیانت له هغوی څخه د صلب اعتماد د رای حق لري. که د سترې محکمې قاضیان او یا قاضي القضات د کوم جرم او خیانت پر اساس له دندې څخه ګوښه کړای شي، یا مړ شي او یا هم استعفا وکړي او د هغه پرځای د بل ټاکل

اړین شي نو د وخت ولسمشر نوی کس ولسي جرگې ته د منلو لپاره وړپېژني.

**ب: د سترې محکمې جوړښت او واکونه**

د سترې محکمې د جوړښت او واکونو په هکله به پوره لاړښوونې، کړنلارې او تګلارې جوړې کړاي شي مگر وړاندیز دا دی چې د جرم پر وخت ستره محکمه باید د دې واک ولري چې د نورو کسانو ترڅنګ د ولسمشر، لومړي وزیر او وزیرانو د نیولو حکم هم صادر کړای شي.

**پ: د تمیز محکمه**

د سترې محکمې په مشوره د تمیز د محکمې قاضیان د ولسمشر لخوا پۀ ځانګړې توګه د څوارلسو کلونو لپاره پر دندو ګومارل کیږي او د سترې محکمې تر واک لاندې کار کوي. د تمیز د محکمې قاضیان پرته د کوم جرم او خیانت څخه د خپلې دندې څخه د هیڅ ولسمشر لخوا نشي ګوښه کیدی. کۀ چیرې د تمیز د محکمې کوم قاضي د کوم جرم او خیانت پر اساس لۀ دندې څخه ګوښه کړی شي، یا مړ شي او یا هم استعفا وکړي او د هغه پر ځای د بل ټاکل اړین شي نو د وخت ولسمشر د سترې محکمې پۀ مشوره نوی کس ټاکي. د نورو ټولو محکمو قاضیان د سترې محکمې لخوا پۀ دندو ګومارل کیږي.

## اخستنځایونه


۱. أبو محمد علي بن أحمد بن سعيد بن حزم الأندلسي القرطبي. المحلى بالآثار. المطبعة المنيرية. مصر. ۱۳۵۲ هـ، ق.

۲. امام أبو حامد محمد بن محمد الغزالي. المستصفى من في أصول (الفقه). دار الكتب العلمية: بيروت. لبنان. ۱۹۹۳م.

۳. امام أبو عبدالله احمد بن محمد بن حنبل الشيبانى. مسناد امام احمد بن حنبل. مكتبة دارالسلام. رياض: السعودية العربية. ۲۰۱۲م.

۴. امام حافظ أبو داؤد سليمان بن الاشعت. سنن أبو داؤد. مكتبة دارالسلام. رياض: السعودية العربية. ۲۰۰۸م.

۵. امام حافظ أبو رحمن احمد بن شعيب بن علي النسائي. سنن النسائي. مكتبة دارالسلام. رياض: السعودية العربية. ۲۰۰۷م.

۶. امام حافظ أبو عيسى محمد ابن عيسى الترميذي. سنن(جامع) الترميذي. مكتبة دارالسلام. رياض:السعودية العربية. ۲۰۰۷م.

۷. امام محمد بن اسماعيل البخاري. الصحيح البخاري. مكتبة دارالسلام. رياض: السعودية العربية. ۱۹۹۷م.

۸. امام محمد بن يزيد ابن ماجه القزويني. سنن ابن ماجه. مكتبة دارالسلام. رياض: السعودية العربية. ۲۰۰۷م.


www.sabawoon.com Online

۹. سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي الشامي أبو القاسم الطبراني. المعجم الكبير (للطبراني). مكتبة ابن تيمية. القاهرة: مصر. ۲۰۱۰م.

۱۰. مولانا محمود الحسن دیوبندی. کابلی تفسیر. د حرمینو چاپخونه. سعودي عربستان.

۱۱. مولوي فاروق غلجی. قران کریم، پهٔ روانه او ساده پښتو ژبه. افغان بنسټ. کابل: افغانستان. ۱۳۹۲هـ ل.

۱۲. Aristotle. The Complete Works of Aristotle. Princeton, NJ: Princeton University Press, ۱۹۸۴.

۱۳. Ibn Khaldun. The Muqaddimah . Princeton, NJ: Princeton University Press, ۱۹۶۷.

۱۴. Khadduri, Majid. The Islamic Conception of Justice. Baltimore, MD: Johns Hopkins University Press, ۲۰۰۱.

۱۵. Maududi, Abul Ala. Islamic Way of Life. Leicester, UK: Islamic Foundation, ۱۹۶۸.

۱۶. N.A. The Constitution of Medina. London, UK: Minhaj-ul-Quran Publications, ۲۰۱۲.

۱۷. Plato. Plato Complete Works. Cambridge, MA: Hackett Publishing Co., ۱۹۹۷.

۱۸. Qutb, Sayed. Social Justice in Islam. New Jersey, NJ: Islamic Publications International, ۲۰۰۰.